# صوبائی اسمبلی خیبر پختونخوا

## مباحثات

---

بروز ہفتہ مورخہ 20 دسمبر 1997

(بمطابق 19 شعبان 1418 ہجری)

جلد 9 | شمارہ 6

سرکاری رپورٹ

| مندرجات | صفحہ نمبر |
|---|---|
| 1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ | 1 |
| 2۔ معزز رکن کی بازیابی | 2 |
| 3۔ نشانزدہ سوالات اور ان کے جوابات | 8 |
| 4۔ معزز اراکین کی درخواستیں | 42 |
| 5۔ اسلامی نظریاتی کونسل کی رپورٹ پر بحث | 75 |

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز ہفتہ 20 دسمبر 1997 بمطابق 19 شعبان 1418ھ صبح دس بجکر سترہ منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب سپیکر ہدایت اللہ خان چمکنی مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اعوذ باالله من الشیطن الرجیم ہ بسم الله الرحمان الرحیم ہ

شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسٰٓى اَنْ اَقِيْمُوا الدِّيْنَ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِيْهِ ؕ كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَيْهِ ؕ اَللّٰهُ يَجْتَبِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَهْدِيْٓ اِلَيْهِ مَنْ يُّنِيْبُ ہ

(پارہ 25 آیات نمبر 12 تا 13 سورۃ

ترجمہ : اے خلقو مونږه تاسو له هغه دين مقرر کړے دے چه حضرت نوح عليه السلام ته مو ښودلے وو او کوم چه مونږه اے پيغبره تا ته د وحی په ذريعه درليږلے دے او کوم چه مو ابراهيم عليه السلام او موسیٰ عليه السلام او عيسیٰ عليه السلام ته ښودلے وو چه په دے دين باندے قائم اوسيږئی او تفرقه پکښ مه پيد اکوئی۔ مشرکانو ته دا خبره ډيره گرانه ښکاريږی کومے ته چه ته هغوی رابلے۔ اللّٰه چه د چا په حقله اوغواړی نو خان ته ئے را اوبلی او خپل خان ته ئے اورسوی څوک چه هغه ته رجوع کوی۔

## معزز رکن کی بازیابی

بیگم نسیم ولی خان، محترم سپیکر صاحب! تاسو به هم خبر شوی نیی او د
اسمبلی معزز اراکین به هم خبر شوے وی ، ټوله صوبه خبر شوے ده چه
سحر مونږ راپاسیدو نو په اخبارکښ مونږ ته دا خوشخبری ملاؤ شوه چه
خمونږ د اسمبلی معزز رکن گیان سنگھ او د هغه ملگرے مقبول احمد سیکشن
آفیسر دواړه بازیاب شو۔ په دے لړ کښ ما مخکښ هم دا خبره کړے وه چه د
حکومت د کوششونو نه او د انتظامیے د کوششونو نه مونږه مطمئن وو او
داسے هیڅ قسمه خبره نه وه چه مونږ دِ په هغے باندے د بے اطمینانئی اظهار
اوکړو۔ یوه وجه پکښ وه چه ټرانبل ایریا Involve وه۔ نو مونږه د هغے په
ضمن کښ ستاسو په مخکښ مونږ دا فیصله کړے وه چه مونږ دے لاریشو او
گورنر صاحب ته دِ هم یو یاداشت پیش کړو او هغه ته دِ هم دا اووایو چه هغه
دِ خپل اثرورسوخ استعمال کړی۔ په دغه لړ کښ، مونږ د گورنر صاحب هم
ډیر زیات مشکور یو چه هغه هم خپل Role play کړو۔ د قبائلی ورونړو
چه کوم په دے کښ خمونږ سره کمک کړے دے، د هغوی هم ډیره شکریه او
منڼه ادا کومه او حکومت له په دے خپله کامیابئی باندے مبارکی ورکوم۔ د
انتظامیے او په خصوصیت د پولیس او د پولیس د کارکردگی ستائنه کوم چه
هغوی په داسے طریقه باندے خمونږ هغه ورک ملگرے راپیدا کړو چه نن
ورته رشتیا خبره دا ده چه مونږه هم حیران یو، نه پوهیږو چه چرته وو،
څنگه وو او څنگه راغلو؟ چه هر څه شوی دی دا اته لس ورځے چه تیرے
شوے، دا خمونږ د ټولود پاره ډیرے د سختئی وے او ډیرے د تکلیف وے۔ په
گیان سنگھ چه کومه سخته او تکلیف تیر شوے دے او د هغه په ملگری چه
کومه سخته او تکلیف تیر شوے دے، د هغوی په وجودونو به تیر شوے وی
او خمونږ ورسره په زړونو تیر شوے دے۔ خمونږ په ذهنونو تیر شوے
دے۔ خمونږه ذهنونه پریشانه وو۔ مونږ تر بیگاه شپے پورے هیڅ قسمه
سوچ نه شو کولے چه کیناستو به نو په خپل مینځ کښ به مو دا خبره کوله۔
تاسو ته معلومه وه چه پرون مو ستاسو په دفتر کښ میټنگ اوکړو، صرف د
دے د پاره ټولے هلے خلے موکولے۔ حکومت بالکل ټهپ ولاړ وو او هلے

خلے دا وے چه دا دوه ملګری را پیدا شی۔ یودا دے چه د ملګرو ورکیده خمونږ د پاره د غم او د تکلیف او د عذاب باعث وو، دونمه د حکومت ډیره زیاته بدنامی هم وه په دے کښ۔ خه د ټولو ملګرو د طرف نه، د ټولو هغه ادارو او د ټولو هغه خلقو، د حکومت او د ګورنر، د قبائلی عمائدینو او د قبائلی ملګرو د ټولوخلقو ډیره منته، ډیره شکریه ادا کوم چه هغوی مونږ سره په دے لړکښ کمک کړے دے۔ او پریس هم ناست دے، د پریس کردار په دے مسئله کښ هغه خو ما ونیل تاسو ته نے خبره کړے وه چه تاسو به خبره کوئی، د پریس کردار په دے مسئله کښ ډیر زیات مثبت وو او مونږ سره نے ډیرکمک کړے دے۔ خمونږ سره ډیرکلک ولاړ دی، هرخانے کښ نے مونږ خبرکړی یو او هرخانے کښ نے هغه خبره کړے ده چه کومے دے سلسلے له تقویت ورکولو۔ خه د پریس د ټولو ملګرو هم ډیره زیاته مشکوره یم۔

<u>جناب احمد حسن خان</u>: بِسمِ اللّٰهِ الرّحمٰنِ الرّحِیم ۔ جناب سپیکر! بی بی خبره اوکړه او خما په خیال خو د هغے د خبرے نه زیاته خبره کول کیدے هم نه شی او په کارهم نه ده۔ خه هم د اپوزیشن د طرف نه او د آزاد اراکین اسمبلی د طرف نه، د خپل ملګری ګیا ن سنګھ او د هغه د ملګری مقبول احمد په پُرامن برآمدګی باندے د زړه د خوشحالئی اظهار کوم او یقیناً د انتظامیے په داسے طریقه عمل باندے چه په هغے د هغوی جان و مال ته څه نقصان او نه رسیده، دا قابل ستائش خبره ده۔ د دے سره سره دا عرض کوم جناب سپیکر صاحب چه د انتظامیے دے عمل ته مونږ زیات کامیاب ونیلے شو خو مکمل کامیابی ورته په دے شکل کښ نه شو ونیلے چه که جناب ستاسو په وساطت سره په دے موقع کښ لاء منسټر صاحب ناست دے، ستاسو په وساطت سره صوبائی حکومت او د انتظامیے که خه پام دے خبرے ته را اونه ګرخوم، چه که دا د خپلو تحقیقاتو دا سلسله جاری اوساتی، کوم کسانو چه هغه اغواء کړے دے او یقیناً چه هغوی ته به څنګه ټارچر شوے وی چه دا انجام ته او نه رسی نو مونږ به بیا مطمئن نه یو۔ رشتیا خبره خو دا ده چه مونږ اپوزیشن خو دا فیصله کړے وه چه که د نن پورے یا د سبا پورے د ګیان سنګھ برآمدګی پُرامن طور باندے او نه شی نو د پیرد ورځے نه خمونږ د اپوزیشن سانیډ د

مستقل بانیکاټ اراده وه او هغے کښ شاید کیدے شی چه په ایوان نورهم دغه شان خیال لرونکی، حقیقت پسند دوستان او ورونړه خمونږ سره هغه شان ملګری وے لکه څنګه چه مونږه د هغوی ملګرتیا مخکښ کړے وه او هغوی خمونږ سره کړے ده، خو جناب سپیکر خه دا عرض کوم او دا درخواست کوم چه مونږ به هله دے شی ته کامیابی وایو خکه په دغه پوائنټ او په دغه خانے باندے ما On the floor of the House د یوے بلے واقعے نشاندهی کړے وه او رشتیا خبره دا ده چه هغه ما څه ګپ نه وو لګولے۔ که د هغے حقائق او تفصیل صوبائی حکومت معلومول غواړی او اوریدل غواړی نو دا وخت نه دے هغه ټول تفصیل به ورته خه کیږدم۔ هغه هم دغه خانے وو او دغه خواوشا ده او د دے خانے نشاندهی چه کله نه کله کیږی نو داسے پته لګی چه دا خانے په Settled Area کښ دے جناب سپیکر۔ لهذا چه انتظامیه مکمل تحقیقات او نه کړی او هغه کسان کیفرکردار ته او نه رسوی چا چه دا عمل کړے دے او په داسے عمل کښ ملوث دی نو خما په خپل خیال دا به پوره کامیابی نه وی خو په زیاته کامیابی مونږ بیا هم د خدائے پاک مشکور یو او انتظامیے له شاباش ورکوو او د هغوی شکریه ادا کوو چه هغوی د دے اسمبلی د یو ممبر د ژوند خیال اوساته۔

<u>جناب عفور خان جدون</u> ، جناب سپیکر صاحب خه د ګیان سنګھ په برآمدګی باندے د انتظامیے او د حکومت ډیر زیات مشکور یم او شکریه نے هم ادا کوو۔ خه څنګه چه احمد حسن خان اوفرمائیل نو خبره دا ده چه اوس خو به هغه پخپله د سوموار په ورځ راشی او په دے اسمبلی کښ به بیان ورکړی او هغه سره چه څه واقعات شوی دی نو د هغه هغه Views هم اوریدل غواړی، خو بیا هم د خپل طرف نه خه د انتظامیه ډیر زیات مشکور یم چه هغوی هغه صحیح و سلامت راپیدا کړو او نن خما په خیال هغه خپل کورته تلے دے۔ والده صاحبه نے ناجوړه ده او د سوموار په ورځ باندے به راشی او په اسمبلی کښ به خپل بیا ن ورکړی۔ ستاسو په وساطت باندے مونږه ټول د دے حکومت ډیر زیات مشکورو ممنون یو چه هغه ډیر زر بازیاب شو۔

<u>جناب عبدالسبحان خان</u> ، پوائنټ آف آرډر! شکریه قابل احترام سپیکر صاحب!

د گیان سنگھ په اغوا باندے چه څومره خمونږه د اسمبلئی ممبرانوکه هغوی د اپوزیشن سره تعلق ساته یا که هغوی د ټریژرری بینچز سره تعلق ساته، د هغوی احساسات او جذبات د قدر وړ وو۔ دعاګانے خلقوکړی دی بلکه هغه بله ورځ بی بی په یو ځائے کښ خبره کوله چه خدائے ګواه دے چه نن مے هم دعا اوکړه، خما په خیال د پالیمنټری پارټی جائنټ میټنګ وو۔ دغه شان هر سړی خپل کوشش کړے دے خو ښے ته به ښه او بدے ته به بد وایو۔ په دے کښ د وزیراعلیٰ صاحب ذاتی کوششونه، هغه د ستائنے وړدی۔ په دے کښ د پولیس کارکردګی، دا خو بلور صاحب وائی خو چه تر څو پورے ماته علم دے ډیره د قابل تحسین ده چه په ایف آرعلاقه کښ هم هغوی چهاپے وهلے دی۔ څه د یو ممبر په حیثیت سره چه هغه خمونږ وروړ دے، ضروری ګڼړم چه د وزیراعلیٰ صاحب او د حکومت، د پولیس د انی جی پی صاحب او د هغه د انتظامیے د ملګرو او د هغه خلقو چه چا په دے کښ کوششونه کړی دی، هغوی د سکرین شاته دی او په دے کښ ئے کوششونه کړی دی، د هغوی شکریه اداکوم او بیا په آخرکښ صاحب ستاسو چه خمونږه یو کسټوډین ئے، او دلته ناست ئے او مونږ له ډیرډاډ او تسلی راکوے، خمونږه حوصلوله ډاډ راکوے او حوصلے راله اوچتوے۔ ستاسو په قیادت کښ چه اسمبلئی کومه کارکردګی کړے ده هغه د ستائنے وړده۔ څه شکریه د هغے ادا کوم۔ خو قابل احترام سپیکر صاحب! که یو طرف ته د پریس د وروڼړو شکریه اداکوم نو بل طرف ته د یودوه اخبارونو چه خما قابل احترام ملګرو سلیم خان او خما په خیال افتخارحسین باچا د هغے نشاندهی کړے وه چه په داسے موقعوکښ هر سړے دِ په خپل زړه باندے ګوتے کیږدی ، د هغه میاندو د زړونو نه دِ تپوس اوکړی، د هغه پلارانو نه، چه په هغوی باندے به په دے غم زده واقعه کښ څه حالات وو۔ نو په ځائے د دے چه مالګے په زخمونو باندے اچوی نو په هغے دِ ملهم لګوی، ځکه چه د صحافت په خپل ځائے یو کردار دے۔ نو خمونږ صحافیانو وروڼړو چه څومره څه کړی دی هغه په خپل ځائے، خو دغے ته مونږه دا وایو چه دوی دِ هم په خپلو صفونو کښ دا یلو جرنلزم چه کوم دے چه د دے حوصله شکنی

اوکړی۔ خه بیا ستاسو ډیره زیاته شکریه ادا کوم۔

جناب بشیر احمد بلور (وزیرقانون و پارلیمانی امور)، جناب سپیکر صاحب! ډیره زیاته مهربانی۔ سپیکر صاحب دا چه کومه واقعه شوے وه په دے کښې تاسو ته هم وقتاً فوقتاً ولے چه د اسمبلئ سیشن وو، ایډمنسټریشن تاسو هم د هر یو شی نه خبرولئ او بیګم صاحبے چه ښکه خبره اوکړله، دا ډیره د خوشحالئ خبره ده او په دے کښې مونږ د اپوزیشن ورونړو ډیر زیات مشکور یو چه مونږ لاړو ګورنر هاؤس ته، او ګورنر صاحب ته مونږه هغه خپل یادداشت پیش کړل، خو هغے سره سره دا لوکل ایډمنسټریشن، پولیس، انی بی، ائی ایس ائی، ائی جی ایف سی او ایف سی کمانډنټ، د دے ټولو خلقو مونږ ډیر زیات مشکور یو او دوی خمونږ سره ډیر زیات مدد کړے دے او دا سړے ښکه چه احمد حسن خان اوفرمائیل چه په دے ډیر زیات د خدائے شکر او فضل دے چه په خیر خیریت سره خپل کور ته رسیدلے دے او خه احمد حسن خان ته دا تسلی ورکوم چه کومو خلقو چه دا کار کړے دے د دے به مونږه سخت نه سخت ایکشن اخلو۔ کله چه ګیان سنګھ راشی او کوم کوم خانے چه به دے ښائی او خه خه چه په هغه باندے تیرشوی وی انشاء اللہ تعالیٰ حکومت فیصله کړے ده چه مونږ به د دے خلاف هغه چه هر څوک وی مونږ به د دے خلاف ډیر سخت ایکشن اخلو۔ خه د پریس والا ورونړو او د لوکل انتظامیه، دا خمونږه د حکومت فرض دی، د شکریه ادا کولو دا مطلب نه دے چه مونږه دا ډیر لوئے کار اوکړو، دا خمونږه فرض وواو دا د حکومت فرض دی چه هغه دِ Law & Order situation صحیح ساتی او د خدائے په فضل سره مونږ په دیکښې ډیر په ښه طریقه سره کامیاب شواو خه د هغه ډیپارټمنټ ستائنه په دے وجه باندے کوم چه سبا له دِ نور هم Active شی او په صحیح طریقے سره دِ د حکومت کاروبار اوچلوی۔ ډیره مهربانی۔

جناب احمد حسن خان ، جناب سپیکر! رشتیا خبره دا ده چه د بشیرخان د خبرے نه پس خبره کول خلاف روائت دی۔ په دے ټوله مسئله کښې ستاسو رهنمائی او بطور کسټوډین ستاسو کردار قابل ستائش دے۔ خه او خما ملګری ورته

د زړه د اخلاصه خراج عقیدت وړاندے کول غواړو۔

جناب سپیکر: مهربانی، ډیره مهربان۔

جناب عبدالسبحان خان : سر! قابل ستائش، قابل شکایت نه دے۔

جناب احمدحسن خان : هغه بله ورخ مونږ خبره اوکړه ستاسو د ښے کارکردګئی، نو یو وزیر صاحب اوفرمائیل چه حلوه ئے وړاندے کړه او بل اوفرمائیل چه تیل۔ نو دواړه وزیران دی او د حلوه او د تیلو د قیمت نه نه دی خبر، چه نن مونږ قابل ستائش اووایو نو هغوی هغه قابل شکایت کړه۔ جناب سپیکر! خبره څه ده په دے مونږه پوهه کړنی۔

جناب سپیکر: ډیره منښه، مهربانی۔

جناب نجم الدین : پوائنټ آف آرډر سر! سر خما درخواست دا دے چه ګیان سنګھ صاحب خو راغے او خبرے اوشولے۔ خمونږه د اپوزیشن د طرف نه احمد حسن خان هم خبره اوکړه۔ خمونږه دا حکومت چه نوے راغلے وو نو دوی د خپل پالیسی بیان په مینځ کښ یو څو خبرے ایښودلے وے۔ یوه خبره په هغے کښ دا وه چه مونږه وی ائی پی کلچرختمول غواړو، دویمه خبره دا وه چه دا کوم ګورنمنټ بلډنګونه جوړیږی یا روډز جوړیږی، دا د قوم په پیسو باندے جوړیږی او د قوم په پیسو چه کوم شے جوړیږی نو په هغے باندے یا ایم پی اے یا منسټر یا پرائم منسټر یا چیف منسټر، په هغے باندے بورډ لګول یا په هغے باندے خپل نوم لیکل، دا طریقه مونږ ختموؤ او په دے وجے باندے خمونږه چه کوم د پاکستان پیپلز پارټئی په دورکښ په مختلفو بلډنګونو باندے، په مختلفو علاقو کښ په مختلفو روډونو باندے کوم بورډونه لګیدلی وو د هغے یو Clear cut orders اوشول او هغه د هغه ځایونه نه لرے کړے شو۔ اوس موجوده مونږه دا اندازه بیا معلوموؤ چه هم هغه حکومت چه کومه فیصله ئے کړے ده، کومه خبره ئے کړے ده، هغه کله په موټروے باندے خپل بورډونه لګوی، کله ئے په هزاره کښ لګوی، کله ئے په بل ځائے کښ لګوی۔ نو خمونږه دا عرض دے تاسو ته او دا مو Request دے چه کم از کم یا خو دِ هغه خمونږه

هغه بورډونه چه کوم نے لرے کړی دی نو هغه مونږه هم د هغے بلډنګونو افتتاح ګانے کړیدی، هغه دِ واپس اولګوی او که هغه نه لګوی نو دا خبره، چه د خپلے خبرے نفی کوی نو دغه بورډونه دِ هم لرے کړے شی۔

ملک جہانزیب خان: پوائنټ آف آرډر سر! دے نجم الدین خان چه سر کوم وضاحت اوکړه نو د دے متعلق خو خه دا وایم چه اول خو دِ دا تحقیقات اوکړے شی چه دوی بورډونه په کارونو لګولی وو او که هسے په دروغه تے لګولی وو۔ نو د دوی خو بورډونه وو خو کارونه نے مونږه نه دی لیدلی۔

## نشانزدہ سوالات اور ان کے جوابات

Mr. Speaker: Honourable Qaimoos Khan MPA to please ask his Question No. 189. Qaimoos Khan, Not present, (it lapses). Honourable Muhammad Ayub Khan Afreidi MPA to please ask his Question No. 335.

*335 جناب محمد ایوب آفریدی: کیا وزیر جنگلات از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:۔

(الف)۔ آیا یہ درست ہے کہ ہری پور سے سوکا نالہ پراجیکٹ ختم کر دیا گیا ہے؟

(ب)۔ آیا یہ بھی درست ہے کہ مذکورہ پراجیکٹ کے ختم ہونے سے بارشوں کے باعث ہر سال اراضی کی کٹائی میں اضافہ ہو رہا ہے؟

(ج)۔ آیا یہ بھی درست ہے کہ برسات کے موسم میں مذکورہ اراضی کی کٹائی کی وجہ سے تمام مٹی اور ملبہ بہہ کر تربیلہ ڈیم میں جمع ہو رہا ہے؟

(د)۔ اگر (الف) تا (ج) کے جوابات اثبات میں ہوں تو حکومت مذکورہ اراضی کے کٹاؤ کو روکنے کے لئے کیا اقدامات کرنے کا ارادہ رکھتی ہے

جناب فتح محمد خان (وزیر جنگلات): جوات

(الف)۔ جی ہاں، یہ درست ہے۔

(ب)۔ جی ہاں، یہ بات اس حد تک درست ہے کہ پراجیکٹ کی وجہ سے علاقے کی اراضیات کو بہتر تحفظ میسر ہوتا تھا لیکن پراجیکٹ کے بند ہونے سے اراضی کے کٹاؤ میں اضافہ

نہیں ہو رہا۔ تاہم زیادہ بارشوں کی وجہ سے دیگر پہاڑی علاقوں کی طرح اس علاقے میں بھی اراضی کا کٹاؤ ہوتا رہتا ہے۔

(ج)۔ جی ہاں' یہ درست ہے کہ جتنے علاقوں سے پانی تربیلہ جھیل میں گرتا ہے بارشوں سے بہہ کر آنے والا ملبہ جھیل میں ہی جمع ہوتا ہے۔۔

جناب محمد ایوب آفریدی: جناب سپیکر صاحب ! اس سوال کے جز (ب) میں ہے کہ آیا یہ درست ہے کہ مذکورہ پراجیکٹ کے ختم ہونے سے بارشوں کے باعث ہر سال اراضی کی کٹائی میں اضافہ ہو رہا ہے ؟ تو اس کا جو جواب دیا گیا ہے جی' انہوں نے ایسے طریقے سے جواب دیا ہے کہ مانا بھی ہے اور نہیں بھی' جو کہ بہت غلط جواب دیا گیا ہے۔ جناب سپیکر صاحب یہ بہت اہم نوعیت کا سوال ہے ۔ جب بھی بجلی کی بات ہوتی ہے تو پھر تربیلہ ڈیم کی بات ہوتی ہے۔ تربیلہ ڈیم کی وجہ سے پورے پاکستان کو اس وقت بجلی مل رہی ہے ۔ ایک دو دفعہ پہلے بھی سر میرا یہ سوال آیا تھا کہ یہ سوکا نالہ پراجیکٹ جو ہے یہ ایک بہت بڑا "خوڑ" ہے ' نالہ ہے سر اور ہر سال بارشوں کی وجہ سے اس کے دونوں کناروں پر جتنی بھی زمینیں ہیں ان کا کٹاؤ اتنا زیادہ ہوتا ہے کہ تربیلہ ڈیم میں ان کا ملبہ بھی چلا جاتا ہے اور وہاں کے جو لوگ ہیں ان کی اتنی Land holding تو ہے نہیں' وہاں پر ایسے پوائنٹ بھی ہے کہ فارسٹ کے چیف کنزرویٹر میرے ساتھ ' میں خود ان کو لیکر گیا تھا ' جہاں پر زیادہ سے زیادہ سو فٹ Width ہے اور دونوں طرف پہاڑی ایریا ہے اور آگے جو زمینیں ہیں وہاں سے ہزار ہزار فٹ کا جو ایریا ہے جی ' بلکہ تقریباً زمین ختم ہونے کو ہے اور وہ سارا ملبہ بھی اس میں جا رہا ہے ۔ تو یہ کہتے ہیں جی کہ یہ بات اس حد تک درست ہے کہ پراجیکٹ کی وجہ سے علاقے کی اراضیات کو بہتر تحفظ میسر ہوتا تھا لیکن پراجیکٹ کے بند ہونے سے اراضی کے کٹاؤ میں اضافہ نہیں ہورہا ' یعنی کہتے ہیں کہ بند ہونے سے اضافہ نہیں ہو رہا تاہم زیادہ بارشوں کی وجہ سے دیگر پہاڑی علاقوں کی طرح اس علاقے میں اراضی کا کٹاؤ ہوتا رہتا ہے۔ ایک جگہ کہتے ہیں یہ نہیں ہوتا ہے اور پھر دوسری جگہ کہتے ہیں ہوتا رہتا ہے ۔ تو اس کے ساتھ "ب" میں جو انہوں نے کہا ہے کہ سردست حکومت کے پاس اس علاقے کے لئے کوئی خصوصی پروگرام نہیں ہے تاہم کوئی نیا پراجیکٹ آنے کی صورت میں یہ علاقہ بھی اس میں شامل کیا جائے گا ۔ اگر اس میں کٹاؤ بھی نہیں ہوتا تو پھر نیا منصوبہ یا نیا جو پراجیکٹ آئے گا تو اس میں اس کو شامل کرنے کی ضرورت کیا ہے۔ میں تو یہ کہونگا سر کہ اس کو تو کمیٹی کے حوالے کیا

جائے یا کوئی ایسا طریقہ کیا جائے جی کہ اس ' یہ جی بہت اہم نوعیت کا سوال ہے جی اور تربیلہ ڈیم ' یہ تقریباً ' میں نے یہ عرض کیا ہے جی کہ حقیقت اس فلور پر میں جو کہہ رہا ہوں کہ وہاں پر ایسے دو تین پوائنٹ ہیں کہ ایک سو فٹ سے 'سو فٹ سے زیادہ Width نہیں ہے اور کٹاو کی وجہ سے دو ڈھائی ہزار فٹ تک اس ایریا میں جو زمینیں ہیں وہ کٹاؤ میں چلی گئی ہیں۔ حکومت کے پاس پراجیکٹ ہیں اور انہوں نے وعدہ بھی کیا تھا کہ ایشین ڈیویلپمنٹ بنک کا ایک پراجیکٹ ہے جوکہ اربوں روپوں کا ہے اور میرے خیال میں ایک سال ہوچکا ہے اور وہ اپنا دفتر ایک جگہ سے دوسری جگہ شفٹ کر لیتے ہیں۔ دو ڈھائی لاکھ روپے اس کو Furnished کرنے میں لگا لیتے ہیں۔ چار دفعہ اس کا دفتر شفٹ ہوچکا ہے اور اس کے لئے مشینری' اپنی گاڑیاں وغیرہ تو وہ پرچیز کر رہے ہیں اور فارنرز جو ہیں وہ دو دو' ڈھائی ڈھائی اور تین تین لاکھ روپے تنخواہ لے رہے ہیں لیکن وہ پراجیکٹ اسی Purpose کے لئے تھا لیکن ابھی تک اس کی کوئی Practical implementation کسی بھی جگہ نہیں ہوئی ہے ۔ پراجیکٹ بھی ان کے پاس موجود ہے۔ میں تو یہ کہونگا سر کہ اس میں ان غریب لوگوں کی زمینوں کا بھی ضیاع ہورہا ہے۔جناب سپیکر! آپ کی وساطت سے ان سے پوچھنا چاہونگا کہ وزیر صاحب کا کیا ارادہ ہے ؟ اس کے لئے وہ کیا کرنا چاہتے ہیں یا ان کے ڈیپارٹمنٹ نے جو جواب غلط دیا ہے ان کے متعلق ان کا کیا خیال ہے ؟ شکریہ جناب۔

<u>جناب فتح محمد خان</u> (وزیر جنگلات) : شکریه سپیکر صاحب! دا کومه خبره چه دوی کوی چه دے کښې نے دا لیکلی دی چه دا واقعی څه زمکه کټ کیږی د بل خانے نه راخی او څه نه کټ کیږی۔ دا خبره خو څه خبره نه ده، اصلیت کښې خبره دا وی چه کوم خانے کښې اوبه نه وی نو هلته کښې به لازماً زمکه کټ کیږی۔ د دغے خبرے سره خما د دوی سره مکمل اتفاق دے او هغه هم خبره هسے ګول متول کړے ده خو مطلب نے دغه دے چه کټاو به لازماً کیږی۔ خو خبره دا ده چه دا یو سکیم وو، افغان مهاجرین چه کله راغلی وو هغه وخت کښې ټولے دنیا به پیسے ورکولے، دا د هغے وجے نه یو سکیم شروع شوے وو او هغے کښې ډیر مقاصد وو. یو بنیادی مقصد دا وو چه دا کومے زمکے سیلاب اوړی دا به بچ شی او بل دا وه چه هغے سره به پکښې خنګلے اولګی او خلق به د هغے نه چل هم ازده کړی۔ که فرض کړه دا سکیم

کله ختم شی، بیا به خلق خپلے خنګلے لګولے شی او ورسره ورسره کوم افغان مهاجرین چه راغلی وو د هغوی مال مویشی د پاره به هم دغه اوشی۔ دا سکیم د دغه نه شروع شوے وو ، تاریخونه نے دادبی ماسره دی ۔ دا د 1984 شروع شوے وو او 1996 پورے دا سکیم وو او هغه وخت پورے د دے دپاره چه څومره روپئ ، 87 ملین روپئ منظورے شوے وے هغه اولګیدے، دا پوره رقم وو خو پکار دا وه چه د هغے نه هغے وخت کښی هم فائده اغستے شوے وے او بیا خلق د هغے نه خو کم از کم څه چل زده کړے وے، د ټولے دنیا نه به همیشه ، مونږ له که روپئ راکوی ، چندے راکوی یا مفت نے راکوی خو د هغے مقصد دا دے چه مونږ خو ترینه څه فائده واخلو د هغے نه که فائده نه وی اغستے شوی نو دا به هغے وخت سره غلطی شوی وی او پکار دا ده چه اوس خلقو چل زده کړے وے او بیا نے خپلے خنګلے په خپله لګولے وے او دا به دغه کوو که بیا چرته چا مهربانی اوکړه او څه پیسے نے راکړے او په هغے کښی ممکنه وه نو د دے سکیم بیا شاملولو کوشش به کوو جی ۔ فی الحال ، د حکومت سره خو دخپلے پیسے نه وے د بهر ملک یو سکیم وو او ختم شوے دے معیاد نے 1996 کښی ختم شوے دے۔

جناب محمد ایوب آفریدی : جناب سپیکر صاحب! یہ تو ایک اور بات کا انکشاف ہوا ہے۔ میں نے جب بھی فارسٹ والوں سے پوچھا ہے تو انہوں نے یہی کہا ہے جی کہ یہ ایک چھوٹا سا پراجیکٹ تھا ۔ آج منسٹر صاحب نے کہا ہے کہ 87 ملین یعنی آٹھ کروڑ ستر لاکھ ، تو اگر وہاں موقع پر سپیکر صاحب میں یہ عرض کرنا چاہونگا کہ زیادہ سے زیادہ اگر کہیں لگایا ہوگا ، تو انہوں نے ایک دو سپاٹ بنائے ہیں اور وہاں پر یہ دیکھا جاسکتا ہے جی میرے خیال میں کوئی آٹھ دس لاکھ روپیہ بھی خرچ نہیں ہوا ہوگا ۔ یہ ایک بہت بڑی Embezzlement ہے ۔ اگر یہ 87 ملین کا پراجیکٹ تھا ، جوکہ ہری پور کے نزدیک ہے تو اسے کمیٹی کے حوالے کیا جائے اور اس کو Thrash out کیا جائے جی 87 ملین تو بہت بڑی رقم ہے جی اگر یہ 87 ملین وہاں لگا ہوتا تو پھر تو کٹاو کا ، ایک نالے کے لئے اگر 87 ملین لگایا جاتا تو میرے خیال میں ادھر اتنے ------ اور اتنا کچھ بن جاتا جی کہ اب دوبارہ کٹاو کی یا نئے پراجیکٹ کی ضرورت بھی نہ رہتی ۔ تو یہ تو مطلب ہے ایک نیا انکشاف ہے جی میں تو یہ کہونگا جی کہ اس کو کمیٹی کے حوالے کریں۔

وزیر جنگلات ۔ دا جی نوے انکشاف نه دے دا به دوی ته په خپله پته وی ، سوکا ناله خو ناله شوه جی د یوے نالے دپاره څوک آته کروړه روپئ نه منظوروی د آتو کروړو روپو یو پراجیکټ منظور شوے وو چه په هغے کښ د سوکا ناله دپاره هم څه پیسے مقرر شوے او په هغے کښ لګیدلے وے که یوے یوے نالے دپاره آته آته کروړه منظوریږی نو تاسو پخپله ناله پیژنئ چه ناله څه ته وائی او د هغے د پاره څومره پکار دی، او څومره منظوریږی، داد آتو ؤ کروړو روپو یو غټ پراجیکټ وو --------

جناب محمد ایوب آفریدی: سر میں منسٹر صاحب سے آپ کی وساطت سے پوچھنا چاہونگا کہ اس نالے پر کتنے پیسے لگائے گئے تھے ؟ اگر ان کے پاس اس وقت کوئی انفارمیشن نہیں ہے تو اس کو Pending رکھ دیا جائے اور پھر پوچھ کر بتائیں کہ اس پر کتنے پیسے لگائے گئے تھے ؟

وزیر جنگلات ۔ تهیک ده جی دا فریش کوئسچن دے که دوی وائی نو خاص د دے یوے نالے به هم تپوس اوکړو۔

جناب محمد ایوب آفریدی: نہیں سر یہ فریش نہیں ہے یہ خود کہتے ہیں کہ 87 ملین - اگر ان کو ڈیپارٹمنٹ نے کہا ہے کہ یہ پراجیکٹ 87 ملین کا تھا تو انہوں نے ان کو Detail بھی دی ہوگی کہ یہ 87 ملین کہاں کہاں لگائے گئے ہیں۔ یہ تو میرا ضمنی سوال ہے کہ سوکا نالے پر کتنے پیسے لگے ہیں۔ تربیلہ ڈیم بننے سے پہلے تو وہ سارا ایریا نالہ ہی تھا اور ڈیم بن جانے سے وہ جھیل بن گئی اور پیچھے والے ایریا کو تو ابھی بھی سوکا نالہ کہتے ہیں۔ تو ان کے پاس Detail ہے کہ یہ 87 ملین کا پراجیکٹ ہے تو پھر یہ بھی انہیں معلوم ہوگا کہ Specific اس جگہ پر کتنے پیسے لگائے گئے ہیں۔

وزیر جنگلات ۔ وہ ابھی میں پوچھ کر بتادونگا اگر یہ Insist کر رہے ہیں تو ابھی پوچھ کر بتادونگا۔

جناب سپیکر ۔ داسے به اوکړی کنه تاسو ته به په Tea break کښ بیا اووائی۔

جناب محمد ایوب آفریدی ۔ تو پھر سر اس کو Pending کردیں، تو مہربانی ہوگی، جب تک کہ پوچھ کر نہیں بتادیتے۔ سر! آپ خود دیکھیں، آپ اس ہاؤس کے Custodian ہیں۔ میرا یہ سوال دو تین دفعہ آچکا ہے 87 ملین روپے لگے ہیں اور پھر تربیلہ ڈیم کو

بھی، وہاں سے Scouering ہوتی ہے اور مٹی بھی جاتی ہے۔

جناب سپیکر، گورنی جی چه تاسو Insist کونی نو Pending به ئے کړو خو صرف دومره خبره ده که تاسو ته هغوی خپل دغه درکړی کنه۔

جناب محمد ایوب آفریدی ۔ سر ! اس کو کمیٹی کے حوالے کردیں اس کو Thrash out کرنے کی ضرورت ہے۔

وزیر جنگلات ۔ که تاسو ئے کمیټئ ته حواله کوے نو کمیټئ ته ئے حواله کړنی، که کمیټي ورسره څه کولے شي۔

جناب سپیکر ۔ اگر آپ کو کوئی اعتراض ہو کہ اس میں Embezzlement یا کچھ اور اس طرح کا کچھ کیا گیا ہے تو We will request the honourable Minister that he should do an inquiy .........

وزیر جنگلات ۔ هغه خو بیا بله خبره شوه۔

جناب محمد ایوب آفریدی: سر! اگر یہ یقین دہانی کرائیں کہ --------

جناب سپیکر ۔ کہ اس میں انکوائری ہو۔

وزیر جنگلات ۔ که دوی دا خبره کوی نو بیا خو بدله شوه جی۔ که دوی څه د Embezzlement خبره کونی یا پکښ دا وائی چه چا پکښ څه کړے وی یا خو به بیا دوی خاص د دے خانے د پاره اووائی چه دومره روپئ منظورے شوے وے او په هغے کښ دومره اولګیدے۔

جناب سپیکر ۔ خه خو ستاسو Interest کښ خبره کوم۔ خه دا وایمه چه دا به، خیر دے که تاسو وائیی نو خه به ئے Pending کړم خو دا بیا راځی چه کله بیا ستا د ډیپارټمنټ د پاره Date راځی۔

جناب محمد ایوب آفریدی: سر! میں ان کے دفتر میں ان کے ساتھ بیٹھ کر بات کرلونگا لیکن صرف یہ یقین دہانی کرادیں کہ اے ڈی پی کا جو دوسرا پراجیکٹ ہے اس میں اس کو شامل کرنے کا ارادہ رکھتے ہیں یا نہیں، یہ یقین دہانی تو کرائیں۔

وزیر جنگلات ۔ تاسو یو منټ د دوی دا کونسچن اوګورئی که په دے کښ دا څه ذکر وی، آیا یہ درست ہے کہ ہری پور سے سوکا نالہ پراجیکٹ ختم کیا گیا ہے۔ یو سوال دا دے جی آیا یہ بھی درست ہے کہ مذکورہ پراجیکٹ کے ختم ہونے سے بارشوں

کے باعث ہر سال اراضی کے کٹاؤ میں اضافہ ہور رہا ہے ۔ دویم سوال دا دے آیا یہ بھی درست ہے کہ ہر برسات کے موسم میں مذکورہ اراضی کے کٹاؤ کی وجہ سے تمام مٹی اور ملبہ بہہ کر تربیلہ ڈیم میں جمع ہور رہا ہے۔ دریم دا دے۔ څلورم اگر (الف) تا (ج) کے جوابات اثبات میں ہوں تو مذکورہ اراضی کے کٹاو کو روکنے کے لئے کیا اقدامات کرنے کا ارادہ رکھتی ہے ۔ په دے کښې چه کوم د دوی دا سوالونه وو د هغے جوابونه خو پوره راغلی دی ۔

<u>جناب سپیکر</u>۔ کورنی جی، د هغوی خو صرف دومره پورے دغه دے چه دا ټول Sands بیا تربیله ډیم ته ځی، او د هغے بیا ډیر نقصان وی۔ نو صرف دومره اوکړے چه دوی به تاسو سره روستو کینی ، تاسو اوګورئی چه څه پوزیشن دے، دا سوکا ناله ده که څه ده، د دے د پاره څومره پیسے مختص شوے وے او څومره پکښې اولګیدے، او څومره او نه لګیدے؟ دا تسلی ورله اوکړئی ۔ او که تاسو ته پکښې دوی څه دا Pointation اوکړی چه پکښې څه Embezzlement یا څه دغه شوے دے نو تاسو Competent نے تاسو پکښې بیا هم د انکوائری آرډر کولے شئ۔

<u>وزیر جنگلات</u> ،او هغه خو هر وخت کیدے شی که دوی ------

<u>جناب محمد ایوب آفریدی</u>، جناب سپیکر صاحب! میں ------

<u>جناب سپیکر</u> ، یو منټ جی - In case که ستاسو حالات واقعی داسے Financially ښه شو ، او پیسه درته د خزانے نه یا څه داسے دغه اوشوه او واقعی دا شے دا سے وی لکه څنګه چه تاسو نے هم منئ او هغوی نے هم منی ۔ نو بیا ورته څه د فنډ Allocation بندوبست اوکړئی ۔

<u>وزیر جنگلات</u>۔ که څه پیسے د بهر نه چا ورکړے، نو بیا به ورله بالکل بندوبست اوکړو۔

<u>جناب محمد ایوب آفریدی</u>۔ سر میں یہ عرض کرونگا کہ منسٹر صاحب نے ابھی خود کہا ہے۔ جو جواب دیا گیا ہے اس میں یہ خود کہہ رہے ہیں کہ سردست اس حکومت کے پاس اس علاقے کے لئے کوئی خصوصی پروگرام نہیں ہے تاہم نیا پراجیکٹ آنے کی صورت میں یہ علاقہ بھی اس میں شامل کیا جائے گا ۔ میں کہتا ہوں سر کہ پراجیکٹ ہے ، اربوں

روپوں کا پراجیکٹ ان کے پاس ہے اور اسی کام کے لئے ہے اور یہ ایشن ڈیویلپمنٹ بنک کا پراجیکٹ ہے تو یہ یقین دہانی تو کرائیں کہ اس کو اس میں شامل کریں گے۔ یہ تو کہتے ہیں کہ نہیں ہے۔

وزیر جنگلات ، هغه خو به کتے شی چه ضروری ضروری سکیمونه کوم کوم دی او که دا دومره ضروری او مناسب وی او دا راخی او څه پراجیکټ وی نو خوامخواه به ورسره دغه کوو۔ خو دضرورت مطابق جی۔

Mr. Speaker: Honourable Qaimoos Khan, MPA to please ask his Question No 341......

341* جناب قیموس خان، کیا وزیر جنگلات ازراہ کرم ارشاد فرمائینگے کہ :-

(الف)۔ آیا یہ درست ہے کہ ملاکنڈ سرکل کے لئے ای آر پی پراجیکٹ کی منظوری 1999 تک دی گئی ہے۔ اسکے لئے 80% رقم غیر ممالک سے اور معاہدے کے مطابق بقایا 20% رقم صوبائی حکومت فراہم کرنے کی پابند ہے؟

(ب)۔ آیا یہ بھی درست ہے کہ سوشل فارسٹری دیر و ملاکنڈ پراجیکٹ کے لئے 93% حکومت ہالینڈ نے بطور عطیہ فراہم کی ہے جبکہ بقایا 7% رقم صوبائی حکومت فراہم کرے گی؟

(ج)۔ آیا یہ درست ہے کہ مذکورہ پراجیکٹس کےلئے بالترتیب صوبائی حکومت نے 20% اور 7% رقم تاحال ریلیز نہیں کی۔ جسکے باعث محکمہ جنگلات کے ملازمین اور ملاکنڈ ڈویژن میں ترقیاتی کام بری طرح متاثر ہورہے ہیں؟

(د)۔ اگر (الف) تا (ج) کے جوابات اثبات میں ہوں ، تو حکومت مذکورہ رقم مہیا کرنے کے لئے کیا اقدام کررہی ہے۔

---

وزیر جنگلات :۔ جواب۔

(الف)۔ یہ درست نہیں ہے۔ ای آر پی پراجیکٹ جون 1998 تک منظور ہوا تھا البتہ یہ درست ہے کہ اس پراجیکٹ میں بیرونی امداد اور مقامی اخراجات کا تناسب بالترتیب 80% اور 20% ہے۔

(ب)۔ جی ہاں۔ یہ درست ہے۔

(ج)۔ صوبائی حکومت نے ای آر پی پراجیکٹ کے لئے رواں مالی سال 98-1997 کے

سالانہ ترقیاتی پروگرام اے ڈی پی میں 4.000 ملین روپے مختص کئے ہیں جو اس پراجیکٹ کو جاری کر دیئے گئے ہیں اس پراجیکٹ کے لئے مزید 8.984 ملین روپے کی ضرورت ہے جسکی فراہمی کے لئے مزید کارروائی کی جارہی ہے ۔ جہانتک سوشل فارسٹی پراجیکٹ دیر و ملاکنڈ کا تعلق ہے یہ سکیم جون ۱۹۹۷ء کو ختم ہو چکی ہے ۔ لیکن اس سکیم کی تکمیل پر 174.000 ملین روپے غیر ملکی امداد سے بچت ہوئی ۔ جسکے لئے حکومت ہالینڈ اور حکومت پاکستان دونوں اس بات پر متفق ہو چکے ہیں کہ اس بچت کے لئے نئی سکیم بنائی جائے جس پر کام شروع ہو چکا ہے ۔ نئی سکیم جولائی 1998ء سے جون 2001ء تک ہو گی ۔ جبکہ سال 98-1997ء کے لئے ایک عبوری سکیم Bridging Scheme تیار کی گئی ہے ۔ جس میں حکومت سرحد کے اخراجات کا تخمینہ 7.389 ملین روپے ہیں ۔ جبکہ اس پراجیکٹ کے لئے رواں مالی سال 98-1997ء کے سالانہ ترقیاتی پروگرام اے ڈی پی میں 4.000 ملین روپے مختص کئے گئے ہیں مگر تا حال یہ رقم جاری (ریلیز) نہیں ہوئی ہے جیسے ہیں یہ رقم جاری (ریلیز) ہو گی تمام سٹاف کی تنخواہ ادا کر دی جائے گی۔ مذکورہ سکیم منظور ہو چکی ہے ۔

(د)۔ اس کا جواب "ج" میں دیا جا چکا ہے ۔

جناب نجم الدین: سر ضمنی سوال دے۔

جناب محمد ایوب آفریدی : سر میرے سوال کا کیا بنا اس کے بارے میں مجھے تو بتایا جائے کہ کیا فیصلہ ہوا ہے ۔

جناب سپیکر : فیصلہ تو یہی ہوا ہے جی کہ آپ ان سے ملکر بیٹھ جائیں اور یہ سب کچھ ان کے نوٹس میں لے آئیں۔ وہ فرما رہے ہیں کہ اگر رقم آئی تو ہم اس کے لئے ضرور کچھ نہ کچھ کریں گے۔

جناب احمد حسن خان: سر قیموس خان خو نشته دے۔ د ده په دے سوال باندے خما یو ضمنی سوال دے جناب سپیکر، که تاسو د سوال جز "ج" ټول جواب اوګورئ نو د دے به دا پته اولګی چه کوم ګرانټ، لون یا ایډ ورکړے کیږی نو په هغے کښې د ګورنمنټ آف پاکستان یا د پراونشل ګورنمنټ حصه د نش برابر وی۔ بهرنی ممالک هغه خپله ډیره زیاته پیسه چه کومه 80% یا 90% جوړیږی۔ هغه ورکولو ته تیار وی او هغه ورکوی خو صوبائی حکومت یا

مرکزی حکومت چه د هغوی په ذمه باندے ډیر کم Counterpart راخی جناب سپیکر، حالانکه دے ته دا سوچ نه کوی جناب سپیکر چه په دغے لړ Counterpart باندے دوی دومره زیاته پیسه د بهر نه راولی۔ که تاسو دے ټول سوال ته اوګورئی، نو د منسټر صاحب په خدمت کښ ستاسو په وساطت باندے څه دا عرض کومه چه دا ټول ئے داسے ګول مول کړے دے او دا حقیقت ئے هډو منلے نه دے او حالانکه دا د ده د محکمے جناب سپیکر، کمزوری نه ده۔ دا د فنانس ډیپارټمنټ یا د پی اینډ ډی کمزوری کیدے شی، د دوی نه شی کیدے خو که دوی ئے وضاحت اوکړی او دوی ئے خونړ سره اومنی نو مونږ ستاسو په وساطت سره د اسمبلی په ذریعه د دے د پاره څه خبره راویستے شو۔ جناب سپیکر! په آخر کښ دوی چه کوم Bridging scheme ورکړے دی نو په هر یو کښ دوی وائی چه *"کوشش کی جائے گی"*۔ *صوبائی حکومت نے اس پراجیکٹ کے لئے رواں مالی سال 1997-98 کے سالانہ ترقیاتی پروگرام کے لئے 4 ملین روپے مختص کئے ہیں جو اس پراجیکٹ کو جاری کر دئیے ہیں۔ اس پراجیکٹ کے لئے مزید 8.984 روپے کی ضرورت ہے جن کی فراہمی کے لئے مزید کارروائی کی جارہی ہے۔* یعنی جناب سپیکر! د هغوی د هغه دومره پیسو په مقابله کښ دوی صرف چار ملین مختص کړی دی او دوی وائی *"مزید کارروائی"* ما ته په دے باره کښ پته لګیدلے ده جناب سپیکر، چه په دے وجه باندی فارن ایجنسیز Disheartedشو، هغوی پیسو ورکولو ته نه دی تیار لکه جناب سپیکر، په دے سوشل فارسټری سکیم کښ چه دوی د Bridging Scheme متعلق کوم ونیلی دی، په هغے کښ وائی چه Bridging Scheme *تیار کی گئی ہے جس میں حکومت سرحد کے اخراجات کا تخمینہ 7.380 ملین ہے جبکہ اس پراجیکٹ کے لئے رواں مالی سال 1997-98 کے سالانہ ترقیاتی پروگرام اے ڈی پی میں چار ملین روپے مختص کئے گئے ہیں مگر تاحال یہ رقم جاری، ریلیز نہیں ہوئی ہے جس دن یہ رقم جاری ریلیز ہو گی، تمام سٹاف کی تنخواہ ادا کر دی جائے گی۔* دا خونړ صوبے ته ډیر زیات نقصان دے۔ آیا په دے لحاظ سره څه د جناب منسټر صاحب نه دا سوال کومه چه هغوی به دا خبره یقینی کړی چه کوم د صوبه سرحد حصه چه هغه د نِش برابر ده او په هغے مونږ ته ډیر فارن ایډ راخی دغه حصه ورکولو د پاره

به، دوی خپل کاوش جاری اوساتی چه هغه ملاؤ شی چه مونږ ته زیاتی پیسے چه د بیرونی امداد نه محرومه پاتے نه شو۔ جناب سپیکر خما دا ضمنی سوال دے۔

وزیر جنگلات، د احمد حسن خان د خبرو سره خو خما مکمل طور اتفاق دے، چه 93% مونږ ته بہر ملک نه راکړی او 7% ورته خمونږ ملک ورکول غواړی چه هغے کښں هغه سکیم اوچلیږی او هغه 7% مونږه نه شو ورکولے او هغے سره هغه سکیم متاثر کیږی او په دے 7% هم دا کومے روپئی چه بیا راخی، په هغے کښں دوی کومے پیسے ورکوی، نو په هغے چالیس لاکھ روپئی ورکوی او تیس لاکھ بیا کمے دی، او چالیس چه ورکوی هغه هم لا نه دی ورکړے شوی۔ ما ډیر خله پی اینډ ډی والا سره لکه څنګه چه دوی اووے او فنانس والا سره خبره کړے ده، هغه وائی مونږ سره پیسه بالکل نشته که نه خبره خو د دوی ټهیک ده او خما ورسره اتفاق دے، که هغه ستر لاکھ راکړی، مونږه به ستر لاکھ ورکړو او که هغه چالیس ورکوی نو بیا به هغه چالیس ورکوؤ خو هغه چالیس ئے وعده کړے هم ده چه ورکوؤ به ئے، هغه ئے لا هم نه دی ورکړی۔ د دے وجے نه هغه خلقو ته تنخواه ګانے نه دی ملاؤ شوی، جناب دا حقیقت دے۔

جناب نجم الدین: سر خما ضمنی سوال دے۔ افسوس دا دے چه دلته په د دے سوال په جز " ب" کښں دوی دا لیکلی دی۔ کہ آیا یہ درست ہے کہ سوشل فارسٹری دیر ملاکنڈ پراجیکٹ کے لئے 93 فی صد رقم حکومت ہالینڈ بطورعطیہ فراہم کرتی ہے دوی وائی چه او دا ټهیک ده، 93% پیسے ورکوی هالینډ ګورنمنټ، او په څه طریقه ئے ورکوی؟ Loan نه دے۔ د یو امداد په شکل کښں ئے ورکوی او په هغے باندی د دوی 7% پیسے راخی - 7% صوبائی حکومت ورکول حق دے چه دوی به ورکړی۔ خمونږ په دیر کښں سوشل فارسټری او یا په ملاکنډ ایجنسی کښں سوشل فارسټری کار چه کوم دے په هغے کښں تر اوسه پورے واړه واړه بوټی نهل شوے دی او د هغے د Supervision د پاره سټاف مقرر شوے دے۔ هغه څلور، پنځه میاشتے اوشوے چه دا حکومت 7% پیسے نه ورکوی او د هغے د وجے نه ملازمین کار پریخودے دے هغوی ته

تنخواه نه ملاویږی او هلته هغه کوم چه نهل شوی بوټی دی، هغه هم خراب شو او نو ی، هالینډ والا هم دا وائی چه یره که تاسو مونږ له اوس هم دا 7% راکونی نو چه څومره فنډ درکار دے، هغه مونږه درکوو- خه صرف منسټر صاحب ته دا درخواست کوم چه هغه خو هم خمونږه شان سوال اوکړو چه یره مونږ له پی اینډ ډی نه راکوی- دا خو یو داسے پراجیکټ دے چه خمونږ ورسره ژوند شامل دے، د خلقو ورسره روزګار شامل دے، د هغے علاقے فارسټریشن ورسره شامل دے، نو سپیشل دا درخواست دے منسټر صاحب ته چه اوس جناب دوی نوے پی سی ون جوړ کړے دے په هغے کښې ملازمین لرے کړی دی- نو خما دا عرض دے چه ستر لاکھ، چالیس لاکھ یا پچاس لاکھ چه دا 7% جوړیږی، آیا منسټر صاحب د دے د پاره خپل دا کوشش کولے شی چه په پی اینډ دی والا باندے زور راولی چه کم از کم دا خیراتی پیسے ملاویږی، د لوں د پاره خو دوی خپله حصه ورکوی چه دغه پیسے مونږ ته پاتے شی او خمونږه دا علاقه په آباده شی-

<u>جناب سپیکر</u>: مسټر پیر محمد خان

<u>جناب پیر محمد خان</u>: "جبکہ سال 98-1997 کے لئے ایک عبوری سکیم Bridging scheme تیار کی گئی ہے" د آخری دوه کربښو نه د پاسه دریمه کرخه چه ده (ج) جبکہ سال 98-1997 کے لئے ایک عبوری سکیم Bridging scheme تیار کی گئی ہے - دا سکیم چه کوم دوی تیار کړے دے آیا په دے کښې ملازمینو ته تحفظ حاصل دے، دغه ملازمین به په دے کښې بدستور خپل کار جاری ساتی؟

<u>جناب سپیکر</u>: جی

<u>وزیر جنگلات</u>: دا خو جی یو خل اوشوه چه څومره روپئی راشی په هغه حساب سره به ملازمین ساتلے کیږی- څومره روپئی هغه منظورے کړی، د چالیس لاکھ او ستر لاکھ دا خبره خو هم د دے ملازمینو په سلسله کښې کیده چه څومره روپئی دی په هغه حساب سره به نوکران ساتلے کیږی، زیاتی خو بل څه هسے مفت خو څوک نوکری نه کوی-

<u>جناب پیر محمد خان</u>: نه چه سکیم تیار شوے دے سپیکر صاحب نو د ملازمینو

حالت په کښې څه شو؟ دا کوم ملازمین چه دی په دے کښې دوی ته خو تنخواه تراوسه پورے نه ده ملاؤ۔ څما یو سوال دا دے د منسټر صاحب نه چه د دے ملازمینو تنخواه گانے د کوم وخت نه بند دی؟

وزیر جنگلات: څما په خیال د درے، څلور میاشتو نه بند دی۔

جناب پیر محمد خان: چه درے څلور میاشتو نه بند دی، جناب سپیکر صاحب په دے کښې بره په دے مینځ کښې دا هم ورکړی دی "اس سکیم کی تکمیل پر ایک سو چوہتر ملین روپے غیر ملکی امداد سے بچت ہوئی ہے"۔ بچت په کښې شوے دے 174 ملین، نو د څلور میاشتو نه تنخواه دے ملازمینو ته ولے بنده ده؟ چه بچت اوشو خو پیسه شته کنه، چه پیسه ورسره شته نو د ملازمینو تنخواه ئے ولے بنده کړے ده؟

وزیر جنگلات، تنخواه چه ورکړی خو هغه سکیم به د سره ختم شی۔ مونږ خو دا غوارو چه دا سکیم جاری وی، د هغوی سره خبره شروع ده ا و سکیم جاری پاتے شی۔ د دے وجے نه دا Bridging Scheme سکیم روغ شوے دے چه دا سلسله جاری وی او د هغے د پاره څه تنخواه گانے ورکوی۔ څه په کښې نور کار جاری دے چه تش رواخلی او هغه ورکړی تقسیم شی خو خبره به ختم شی۔

جناب پیر محمد خان، دا خو عجیبه خبره ده سپیکر صاحب، پیسه 174 ملین شته، تنخواه هم نه ورکوی څلور میا شتے ئے بنده کړے ده۔ دلته د هغوی د دغه یقین دهانی هم دوی نه راکوی Bridging Scheme چه هغه دوی به دغه ملازمین به بحال ساتی، که نه به ساتی؟ دا خو جوا ب نه دے۔ چه دغه ملازمین بحال ساتی که نه د څلور میاشتو تنخواه ئے ورله ولے بنده کړے ده۔ چه 174 ملین روپئی درسره شته، مونږ ته حکم د اسلام خودا دے چه اتُوالاجِیرَ اجرُ قَبْلَ اَنْ یُجِیفَ عَرْقُهٗ د مزدور د خولے د اوچیدو نه مخکښې مخکښې د هغه حق هغه ته ورکړئی۔ د ده د څلور میاشتو تنخواه، دا اسلامی حکومت دے که غیر اسلامی؟ دا دے او وانی او بیا که اسلامی حکومت وی او اسلامی مملکت وی، نو په دے کښې د مزدور تنخواه د څلورو میاشتو نه

ولے بنده ده؟

وزیر جنگلات: بهر نه چه کومے روپئی ورکوی، هغه د تنخواه گانو د پاره نه ورکوی- هغه د کار د پاره ورکوی ----

جناب پیر محمد خان: دا کار به ځوک کوی، جناب سپیکر صاحب! دا کار به ځوک کوی؟

جناب سپیکر: چه دوی خبره اوکړی کنه-

وزیر جنگلات: خما خبره خو واورئی کنه- تاسو به پرے پوهه نه شئی بیا، هغه ته صرف دغه د پاره ورکوی هغه نور د غه خرچه ټوله د هغوی وی او تنخواه گانے خمونږ د حکومت وی- د ا Bridging Scheme چه کوم روغ شوے دے په دے کښ هم دا سات ملین روپئی چه دی، دا خمونږ په حکومت باندے دی- دا دے تنخواه گانو سلسله کښ دی- هغه خپلے روپئی خمونږ په تنخواه کښ نه ورکوی- تنخواه چه څومره وی هغه په مونږ باندے ده هغه هم د دے وجے نه ورکوی چه د دے خلقو سره خپل هم څه احساس وی چه دا ځنګل لګی چه دے نے تحفظ هم کوی او د د ے سره بیا ځنګل هم لګوی- نو د دے وجے نه دا 93% هغه ورکوی، نو دا 7% هغه هم ورکولے شی خو څه نه څه ذمه وارئی پکښ خمونږه ورآچوی چه دوی پکښ هم ځان ذمه وار اوګنړی- د دے وجه نه دا تنخواه هغه وائی چه تاسو ئے ورکړی چه ستاسو هم د دے ځنګل سره لږ درد پید ا شی او څه غم ورسره پیدا شی- نودغه 7% د هغوی پیسے مونږ نه شو راغستے چه هغه په نوکرانو باندے تقسیم کړو----

جناب نجم الدین: سر! دا ----

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! دوی چه وائی په آخری پیج چه دا چار ملین روپئی ورکوی "مختص کئے گئے ہیں" دا چار ملین مطلب دا دے، خمونږه د صوبے هغه د اے ډی پی ذکر پکښ دوی کړے دے- د اے ډی پی پیسے سال 1997.98 کے سالانہ ترقیاتی پروگرام اے ڈی پی میں چار ملین روپے مختص کئے گئے ہیں - په اے ډی پی کښ چه چار ملین روپئی مقرر شوی دی،

مطلب دا دے چه دا د تنخوا گانو شوے نو چه چار ملین روپئی په اے ډی پی کښې مقرر شوے، د اے ډی پی رقم، په جون کښې اے ډی پی پاس شوے ده ۔ تراوسه پورے د هغے رقم دوی ریلیز کړے دے، دوی ته ریلیز شوے دے که نه دے؟ او که نه وی شوے نو ولے نه دے او بیا دے ملازمینو ته د اے ډی پی د چار ملین با وجود تنخواه ولے نه ملاویږی؟

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر رشتیا خبره دا ده چه قیموس خان خو شته دے نه خو مونږ د ملاکنډ ډویژن سره تعلق لرو نکی ټول ممبران د هغه مشکور یو چه هغوی دا سوال راوستے دے۔ یو طرف ته منسټر صاحب، خمونږه دا مجبوری ده چه منسټر صاحب خمونږ مشر ورور دے خمونږ د پاره قابل احترام دے او مونږ ئے احترام کوؤ۔ بل طرف ته دا فارسټ محکمه چه په کوم دغه باندے روانه ده جناب سپیکر، هغه انتهائی قابل افسوس ده۔ خه لږ غوندے مختصر ستا سو په وساطت سره دا ضمنی سوال کول غواړم چه د دے لږ رقم د حاصلولو د پاره د کوم په بنیاد چه په ملازمینو کښې سخته بے چینی ده او مونږ ته شدید مشکلات دی۔ جناب منسټر صاحب د پی ایند ډی یا د فنانس سره څه میټنګ کړے دے او د هغه میټنګ څه نتائج راوتی دی؟ مونږ دے په دے صورت حال پوهه کړی۔

جناب سپیکر: هاں جی نجم الدین خان تاسو څه وے؟ چه په یو مخ جواب ورکړی ډیر وخت پرے مه ضائع کوئی، نور خلق هم ډیر پاتے دی۔

جناب نجم الدین: سر ما عرض دا کوؤ 93% فارن ایډ ورکوی او 7% حکومت ورکوی۔ منسټر صاحب وائی چه دا 7% د دے د پاره دا دغه ورکوی چه د خلقو او د قوم Contribution پکښې اوشی چه د دے سره احساس پیدا شی۔ د دے خو دا مطلب شو چه دا 7% حکومت خکه نه ورکوی چه د دے قوم سره د هغوی څه احساس نشته دے ۔ د دے پراجیکټ سره د هغوی څه دی، 7% خو گورنمنټ ورکوی، حکومت صوبه سرحد ورکوی۔ نو دا 7% د دے وجے نه، نه ورکوی چه د حکومت د دے پراجیکټ سره او د دے د کامیابو لو سره څه احساس نشته دے۔

جناب سپیکر: جی

جناب نجم الدین: پختون خوا جی،

وزیر جنگلات: څنګه چه دا احمدحسن خان خبره کوی د دے فارسټ په دے کښې هیڅ قصور نشته دےاو نه زه دے کښې، که ما ورته، خه بهر حال -----

جناب سپیکر: دوی وائی جی چه تاسو څنګه فرض کړی دی، پی اینډ ډی یا فنانس سره نمبر ایک او یا څه اراده مو شته؟

وزیر جنگلات: فنانس او پی اینډ ډی سره خو تقریباً شل ځله خبره شوے ده، شل ځله جی یو ځل هم نه ده۔ د سوال چه لکه څنګه دوی اووے دا په اولنی ځل قیموس خان راوستو۔ د دے خو ډیر ځله داسے قسم سوالونه شوی هم دی۔ داسے سوالونه شوی دی خو د پیسو دا کمے چه دے جی د دے سره خمونږ څه، خما پرے څه وس نه رسی، اوس دا ځائے -----

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! دا پی اینډ ډی محکمه چه ده کنه پی اینډ ډی، د دے مقصد خو پلاننګ دے کنه، پلاننګ اینډ ډیویلپمنټ، نو دوی چه کوم دا چار ملین پی اینډ ډی مقرر کړی دی، خو پلاننګ نے کړے دے کنه۔ نو پلاننګ چه سرے کوی او د هغه سره چه کوم څیز وی، هغه ته پته وی چه خما سره دا پیسه خما په جیب کښې ده، یا راتلونکے ده نو په هغے باندے پلاننګ کوی ------

وزیر جنگلات: ته په دے کښې څه غوارے؟

جناب پیر محمد خان: زه په دے کښې دا غوارم چه پلاننګ هغوی کړے وو۔ په پلاننګ ) هغوی چار ملین روپئی منظورے کړے دی په اے ډی پی کښې، چه دا به وی۔ اوس دغه چارملین روپئی هم دے حکومت نه دی ورکړے 93% بهر ملک ورکوی او هغه 7% هم دوی نه شی ورکولے، نو بیا آیا دے حکومت ته د حکومت حق جائز دے؟ چه په دے صوبه کښې حکومت چلوی، جواز نے شته؟

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! که تاسو لږ سوچ اوکړئی دا فارسټ خمونږ د ملاکنډ او د هزارے ډویژن د پاره ډیر اهمیت لری۔ چه

Financial crunch دے جناب سپیکر، موٹر ولے جوړیږی؟ نو جناب سپیکر د دے د پاره چالیس لاکھ روپئی نشی ورکړے کیدے۔ خو د دے دا مطلب ذے چه هغه priorities کوم خمونږ د پاره دی، هغه دوی خپل Priorities نه گنړی۔ خما د منسټر صاحب نه دا گله ده او دا بطور کشر ورور ترے زه دا خفگان آن دی فلورآف دی هاؤس د دے اظهار کوم، چه د هغے حلقے چه د کومے حلقے او د کومے علاقے خنگل پیدا وار دے د خلقو د معاشی زندگئی بنیادی ضرورت دے او جناب منسټر صاحب وائی چه شل میټنگونه شوے دی خدائے په سرگواه دے محکمو به په خپل مینځ کښ کړی وی، آیا تا په کیبنټ میټنگ کښ چرته دا کونسچن اوچت کړے دے چه څلور لاکهه روپئی ماله نه راکوی دا فنانس او پی اینډ ډی او زه پرے تباه کیږم، خما ډویژن پرے تباه کیږی، هزاره پرے تباه کیږی۔ مونږ جناب سپیکر پرون په تیمرگره کښ په هوټل کښ سوشل فارسټری والا میټنگ کړے دے او دا ئے وئیلی دی، تاسو پرونے نیوز اخبار اوگورئی۔ تاسو ټول مشران ناست ئیی، دا ئے وئیلی دی چه خمونږ ممبران به د چکدرے د پل نه په مونږ باندے راپورے نه اوخی۔ زه خو د خان سره دا وزیر صاحب بوځم، چه خما سر ما تیږی د ده به هم راسره ماتیږی، بس لنډه خبره داده۔

وزیر جنگلات : دوی د موټر خبره اوکړه، نو هغه خو څوک خدائے مهربانه کړی، د بهر نه څه روپئی راځی ----

جناب احمد حسن خان: دا هم خدائے پاک مهربانه شوے دے، دا هم د خدائے پاک مهربانی ده جناب سپیکر، باچا لالا، خما او ستا خبره یوه ده خو خدائے او رسول ته اوگوره، دا شے برابر کړه۔ د دے نه مونږ ته ډیر تکلیف دے جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: دا داسے اوکړئی جی، تاسو ئے take up کړئی بیا دوباره فنانس والو سره او بلکه کیبنټ میټنگ کښ ئے Discuss کړئی۔ د دوی دا ډیر ښه تجویز دے که 93% د بهر نه ملاویږی نو 7% کار بندول نه دی پکار، نو په دے کښ چه څومره تاسو نه Possible efforts کیدے شی جی نو مهربانی اوکړئی، هغه اوکړئی۔ اوکوشش دا اوکړئی چه دا ستاسو خپل ممبران، دا

کوم چه دوی وانی چه د ویرے نه مونږه اخوا تلے نه شو نو د دوی **Involvement** هم پکښې اوکړنی جی۔

جناب فرید خان طوفان: جناب سپیکر صاحب، بله دے نه ده خوښه چه دوی سره نے **Exchange** کړو-----

جناب احمد حسن خان: د دوی خو دا ارمان دے خو دا به مونږه پوره نه کړو۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکرصاحب، خمونږه د صوبے په ذمه په دے کښې چار ملین دی خو زه دا تپوس کوم چه منسټر صاحب خمونږه د مالاکنډ ډویژن نه د فارسټ آمدن څومره دے۔ په هغه آمدن کښې هم دوی دا چار ملین نشی ورکولے چه هغه مقامی کار پرے اوکړی۔

جناب نجم الدین: سر خما عرض دا دے جی، زه نے ستاسو په نوټس کښې راولم۔ منسټر صاحب د د پیر او د منګل په ورخ باندے **P&D** والا هم راوغواړی او **Finance** والا هم او دغه سوشل فارسټری والا دِ هم را اوغواړی اومونږ دِ هم راوغواړی۔ په سوات کښې انګریزان ناست دی نو هغه دِ هم راوغواړی۔ د هغوی پیسے راغلے دی، دوی سره دلته کښې د پاکستان په بنکونو کښې پرتے دی او د دے خانے نه واپس کیږی آټهاره کروړ روپئی صرف د چالیس لاکھ روپو د پاره، نو په دے دِ په دستئی کښې میټنګ را اوغواړی، په نور **Projects** کښې خو شپږ شپږ میاشتے صبر کوی وانی چه پیسے راغلے دی۔ چه راځی به اوهغه راغلی دی دلته کښې د پاکستان په بنکونو کښې دی اوهغه واپس کیږی، نو یو میټنګ دے را اوغواړی چه تاسو پکښې رولنګ ورکړنی او دستئی کښې میټنګ را اوغواړی چه مونږ ورسره کینو او دا خبره اواره کړو جی۔

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکرصاحب ! مونږ ته خفیه یو اطلاع دا ده چه تر اوسه پورے خو مونږ وضاحت نه کولو چه دا پیسے د بهر نه راغلی دی، دلته کښې شته، خو دا پیسے په پرسنل اکاونټ کښې ایخودے شوے دی او په هغے باندے **interest** اغستے کیږی خکه مزدورانو ته تنخواه نه ورکوی۔

جناب سپیکر: دا ګورنی جی، بس د دے واحد علاج دا دے چه تاسو میټنګ

رااوغواړی او دوی په کښې کینونی۔

وزیر جنگلات: په 26 باندے یو میټنګ ما راغوښتے دے۔ په 26 باندے دے دوی پکښې -----

جناب سپیکر: بس دوی ته هم داوسه نه اووایئ چه د مالاکنډ -----

وزیر جنگلات: اوجی، په 26 باندے دے۔ دوی ته به کارډونه خما په خیال تلی وی که نه وی نو نن یا سبا کښې به ورشی۔

جناب سپیکر: ډیره خه ده۔

وزیر جنگلات: په درے بجے باندے میټنګ دے هغے له دےدوی راشی او -----

جناب سپیکر: ډیره خه ده، ډیره خه ده۔

وزیر جنگلات: جناب سپیکرصاحب ! د دوی نه زیات interested پکښې خه یمه جی، خکه چه څنګه دوی اوے، زه هم د دغے علاقے سړے یم او بل د خنګلاتو سره مے تعلق دے۔

جناب سپیکر: ضروری دے۔ Honourable Malik Jehan Zeb Khan MPA, to please ask his Question No 357. Jehan Zeb Khan Please

*357 ملک جہانزیب خان: کیا وزیر جنگلات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ :۔

(الف) آیا یہ درست ہے کہ دیر کوہستان کے جنگلات میں کٹائی ممنوع ہونے کے باوجود باقاعدہ کٹائی جاری ہے

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ ماحول کو آلودگی سے صاف رکھنے کے لئے جنگلات کا ہونا اشد ضروری ہے

(ج) اگر (الف) تا (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو

(ا)۔ مذکورہ جنگلات کی کٹائی کیوں ہو رہی ہے

(۲)۔ مذکورہ جنگلات کی حفاظت اور کٹائی کی روک تھام کے لئے حکومت نے تا حال کیا اقدامات کئے ہیں

جناب فتح محمد خان (وزیر جنگلات): جواب

(الف)۔ یہ درست نہیں ہے البتہ تھل کے علاقے میں کچھ لوگوں نے وزیر اعظم پاکستان

کے دورہ کے موقع پر کچھ درخت کاٹے تھے جن کے خلاف باقاعدہ کاروائی کی گئی۔
(ب)۔ یہ درست ہے کہ ماحول کو آلودگی سے پاک رکھنے کے لئے جنگلات ایک اہم عنصر ہیں۔
(ج) (۱)۔ دیر کوہستان کے جنگلات میں ماسوائے ذاتی استعمال کے کسی قسم کی کٹائی نہیں ہو رہی۔
(۲)۔ جب بھی درختان کی ناجائز کٹائی ہوئی ملزمان کے خلاف چالان مرتب کر کے عدالت میں پیش کئے گئے۔ بدنام ملزمان جو جنگلات کے لئے خطرہ بن رہے تھے کی فہرست ڈپٹی کمشنر دیر کو پیش کی گئی اور ملزمان گرفتار کئے گئے۔

ملک جہانزیب خان: شکریه جناب سپیکر صاحب! خما سوال دے جناب، الف، ب، ج، ک وزیر جنگلات ازراہ کرم ارشاد فرمائینگے ' (الف) آیا یہ درست ہے کہ دیر کوہستان کے جنگلات میں کٹائی ممنوع ہونے کے باوجود باقاعدہ کٹائی جاری ہے۔

جناب سپیکر: لږ د سوال نمبر اوانیی ورسره، 357۔

ملک جہانزیب خان: سوال نمبر 357 ۔(ب) کیا یہ بھی درست ہے کہ ماحول کو آلودگی سے صاف رکھنے لئے جنگلات کا ہونا اشد ضروری ہے۔
(ج) اگر (الف) اور (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو۔
(۱)۔ مذکورہ جنگلات کی کٹائی کیوں ہو رہی ہے۔
(۲)۔ مذکورہ جنگلات کی حفاظت اور کٹائی کی روک تھام کے لئے حکومت نے تاحال کیا اقدامات کئے ہیں۔
(۳)۔ حکومت نے جنگلات کی ----

جناب سپیکر: ضمنی سوال اوکړئی کنه جی تاسو۔

ملک جہانزیب خان: شروع دے سوالونه مے لاجی نه دی ختم۔ بنه جی، دوی جی د اول سوال دا جواب راکړے دے چه دا درست نه ده، البتہ تھل کے علاقے میں کچھ لوگوں نے وزیراعظم پاکستان کے دورے کے موقع پر کچھ درخت کاٹے تھے جن کے خلاف باقاعدہ کاروائی کی گئی تھی۔ د دے جواب متعلق خو زه مطمین نه یم، دا بالکل غلطه ده۔ او دا وزیر صاحب دِ پخپله وضاحت اوکړی۔ شاید چه دے د دے خبرے تا نید اوکړی چه دا خنگلے جی کټ کیږی او ډیرے خنگلے په

دیر، کوهستان او په دے علاقو کښې ډیرے ځنګلے کټ شوی دی۔ د "ب" متعلق دوی لیکی چه ماحول کو آآلودگی سے پاک رکھنے کے لئے جنگلات ایک اہم عنصر ہے۔ دا خو ټهیک ده دا خو هر چا ته معلومه خبره ده۔ "ج" ا گر -----

جناب سپیکر: ستاسو صرف مطلب دا دے چه تاسو دا وانیی او دوی هم وائی چه غیرقانونی څه معمولی عوندے شے دے په ټائم کښې، او د هغې برخلاف مونږ کارروائی کړے ده۔ تاسو وانیی چه څما ورسره اتفاق نشته، دا هر وخت کښې کیږی۔ دا مطلب مودے؟ نومنسټر صاحب به د دے تاسو ته دغه تسلی درکړی چه آیا د دے برخلاف چه څوک څه دغه کوی، د هغې برخلاف قانونی کارروائی یا څه مزید څه فعالیت کول پکار دی کنه، چه دا خو ډیر تاسو منئ هم چه جنګلات ډیر ضروری دی۔ بلکه حقیقت هم دا دے څنګه چه هغوی پخپله فرمائی۔ نو مهربانی اوکړئ په دے باندے ورله څه Assurance ورکړئ - چه تاسو Further څه Steps اخلئ To curb this evil چه مخکښې لاړ نشی، ولےچه تاسو، څه ګول مول خو ئے منی چه کټائی شوے ده۔ بنه د پرائم منسټر، د دے ضرورت څه وو چه پرائم منسټر په Visit په مینځ کښې شوے ده۔ دا خو عجیبه غوندے جواب ستا ډیپارټمنټ ورکوی، چه پرائم منسټر راشی په Visit باندے نو خلق دے بیا غلا شروع کړی۔ .This is very sad دا لږ خپل ډیپارټمنټ ته تاسو Instruction ورکړئ، دوی دِ خپل د مقصد خبری کوی۔ د دوی دا څه عجیبه غوندے قیصه ده۔

جناب احمد حسن خان: دے کښې سر صورت حال تاسو ته واضح کړم۔ جناب سپیکر! جهانزیب خان سوال کړے دے نو د جهانزیب خان د سوال سره سره څما یو بل موقف دے۔ په جانز کټائی باندے جناب سپیکر! هلته دا سے قسم لرګی دی چه د Wind falls دی او Old age والا دی۔ دا څو موده پابندی لګیدلے ده ستاسو په وساطت زه د منسټر صاحب په خدمت کښې دا عرض کوم۔ هغه ته څما نه زیاته بنه پته ده خو چه هغه ولے غږ نه شی کولے۔ زه په دے صورت حال نه یم پوهه۔ هغه وزیراعظم ولے نه شی قائل کولے، هغه وزیراعلیٰ ولے نه شی قائل کولے۔ هغه خپل سیکرټری اوخپل Chief

Conservator سمے لارے له ولے نه شی راوستے۔ جناب سپیکر! عرض دا دے چه هغه خلقو احتجاجاً د وزیراعظم صاحب د دورے په وخت کښ لرگی وهلی وو۔ خکه چه Wind falls او Old age لرگو کښ په Planning باندے په کټائی پابندی ده سر۔ او زه تاسو ته عرض کوم سر، نن سبا چه کومه کټائی کیږی هغه د ریگولر کټائی نه زیاته کیږی او د هغے دوه نقصانه کیږی ، د بازو او د برگے په شکل کښ هغه عام دی۔ د دیر د بازار دِ دے نن دوره اوکړی، د برآول دِ اوکړی جناب سپیکر! د واړی او د اوشیری دِ اوکړی په هغه کښ په لکهونه فټه لرگے پروت دے جناب سپیکر۔ او څه چل کیږی د هغے نه مالک ته ساټھ فی صد نقصان دے او حکومت ته چالیس فی صد نقصان دے۔ د خدائے د پاره دا قرآنی آیت نه دے چه معین قریشی یو حکم کړے دے او دوی پرے د ننه پورے، خما جناب سپیکر! د خنگل سره هیڅ تعلق نشته، دا زه تاسو ته صفا خبره کوم۔ خو ماته دا پته ده چه په کروړهاؤ او په ارباوء روپو لرگے، Wind falls دا یوطرف ته یا تباه شو، یا خلق د معاش خبره ده نن هلته ډاکے شروع شوے دی، خدائے ته د دوی اوگوری، یو ه کمیټی د ورله مقرر کړی چه کومه جائز کټائی د هغے، او که دوی دا وائی چه نه خمونږه محکمه نےنه شی کنټرول کولے نو دا خو جناب سپیکر! د خپلے ذمه داری نه بیا دا مبرا ده، دا خو غلطه خبره ده۔ لرگے تباه شو، جائز کټائی د Planning د کټائی، د Old age او Wind falls دِ بندوبست اوکړی جناب سپیکر، دا صورت حال دے او دا کار خلقو اختجاجاً کړے وو۔

<u>جناب محمد طارق خان سواتی</u> ، جناب سپیکر! گزارش یہ ہے کہ میں اپنے معزز ممبر صاحب کی اس بات کی بالکل تائید کرتا ہوں کہ ہزارہ میں یہ پرابلم ہے جی کہ ہزاروں Wind falls جنگلوں میں پڑی ہیں۔ اسی طرح Dry Trees پڑے ہیں اور جناب ایک دفعہ نہیں متعدد بار ہم سیکرٹری صاحب کے پاس اور وزیر صاحب کے پاس گئے ہیں کہ جناب ان کے لئے پرمٹ جاری کریں کیونکہ لوگ انہیں چوری کر کے لے جاتے ہیں جس سے گورنمنٹ کا بھی نقصان ہو رہا ہے اور مالکان کا نقصان بھی ہو رہا ہے لیکن جناب وہ کہتے ہیں کہ ہم ایک پالیسی مرتب کر رہے ہیں تو ان کی پالیسی مرتب ہوتے ہوتے جناب جنگلات میں بے تحاشہ کٹائی ہو چکی ہے اور ہزارہ کی میں وضاحت کر دوں کہ ہزارہ

میں آجکل جو چوریاں، ڈاکے اور رہزنی کی وارداتیں ہو رہی ہیں۔ چونکہ لوگوں کے پاس جنگل کے بغیر اپنا ذریعہ معاش اور کوئی نہیں ہے اور جب وہ اپنی جائز کٹائی بھی نہ کر سکیں اور انہیں پرمٹ بھی نہ مل سکیں تو پھر جناب والا! وہ کدھر جائیں گے؟ تو میں یہ گزارش کروں گا کہ وزیر صاحب کو ہم نے پہلے بھی درخواست کی ہے کہ جناب برائے خدا کوئی ایسی پالیسی مرتب کریں تاکہ لوگ اپنے جنگلات سے کوئی فائدہ لے سکیں اور جس طرح انہوں نے فرمایا، یہ ٹھیک ہے کہ ٹمبر مافیا پر بھی یہاں اسمبلی میں بات ہوتی رہی ہے۔ جناب! آپ کے سامنے ہم نے ہزارہ میں اس کی مخالفت کی تھی کہ تمبر مافیا یا کواپریٹیو سوسائٹی جو بنی تھی اور یہ فارسٹ سوسائٹی جو بنی تھی، انہوں نے جنگلات کو تباہ کیا ہے اور جناب اب حالت یہ ہے کہ وہ اربوں اور کروڑوں روپے مالکان کے بھی کھا گئے ہیں اور گورنمنٹ کے بھی کھا گئے ہیں لیکن محکمہ ان لوگوں سے پیسہ وصول نہیں کر سکتا۔ غریب لوگ دربدر پھر رہے ہیں اور ان لوگوں میں سے کسی نے اسلام آباد میں بنگلے بنائے ہیں اور کسی نے حیات آباد میں بنگلے بنائے ہیں اور وہ وہاں پر مزے کر رہے ہیں۔ تو جناب! میں وزیر صاحب سے آپ کی وساطت سے یہ گزارش کروں گا کہ اس میں ایک جامع پالیسی دیں۔

جناب سپیکر: جناب طاؤس خان۔

ملک جہانزیب: جناب سپیکر! چونکہ دا تحریک خما دے او ما په دے کښې خپل پوره وضاحت اونه کړو۔ خما خو ډیر څه پاتے دی ------

جناب سپیکر: تاسو اودیږئی چه هغه خبره اوکړی بیا وروستو اوکړئی کنه۔

جناب طاؤس خان: یو دوه منټ - بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیم۔ جنا ب د ځنګلاتو پابندی باندے درے نقصانات شوی دی۔ مونږه کوهستان کښې پاتے کیږو۔ هزاره، سوات مالاکنډ ډویژن دے ټولو کښې دا خبره ده چه سوله آنے صحیح خبره ده چه د ځنګلاتو په پابندی باندے درے نقصانات شوی دی، یو ځنګلات ته نقصان شوے دے، یو د حکومت % نقصان شوے دے چه څومره حکومت ته رسیده۔ دریم عوام ته نقصان رسیدلے دے۔ دے کښې Wind falls هم شته وچے ونے هم شته۔ په پابندی باندے کوم غلط فائده رسیدلے ده۔ نور د ے درے فریقو ته، حکومت ته ځنګل ته، عوامو ته، دا ټول نقصان رسیدلے دے۔

نو لهذا هغه اونے چه د هغے عمر ختم وی، هغه ورسره هم اوکړی۔ دا هر، هر علاقے پخپله هغه محکمه وی، د علاقے خلق وی، دا خنګلات به خپل خپل تقسیمات وی، هلته څوک هسے کټانی ته نه پریږدی، مګر دے وجه باندے حکومت ته سوچ د خلقو دا راغلے دے چه دا اوس سرکاری شو که څه شو، څوک نےغوځوی او څوک نے سیزی۔ نو دا شے خرابیږی۔ لهذا وزیر صاحب ته څمونږ دا درخواست دے۔ چه مرکز ته هم دے خپل شفارس ورکړی چه دا Wind falls آزاد کړی۔ چه د خلقو هم روزګار اوشی او چه حکومت ته هم څه % راځی۔ خوامخواه فټ پسے دوه سوه روپی حکومت ته فائده ده۔ هغه فائده ولے نقصان کوی۔ عوام غریب خلق دی د هغوی ولے نقصان کوی؟ نو لهذا خما ستا په وساطت باندے دا عرض دے چه په دے باندے سیریس خبرےکول پکار دی۔

جناب سپیکر: جواب ورکوی۔ افتخارالدین خان تاسو څه فرمائیی؟ تاسو ونیل غواړنی که سعید احمد خان؟

جناب سید احمد خان: سر! اس سلسلے میں میری درخواست ہو گی جی کہ ہمارے چترال میں جنگل بہت کم ہے، معمولی جنگل ہے لیکن جو پابندی لگائی گئی ہے اس کی وجہ سے بے چارے لوگوں کو ضرورت کی لکڑی نہیں مل رہی لیکن اب یہ پتہ چلا ہے کہ افغانستان کے لوگ چترال کے جنگل کاٹ کر وہاں لے جاکر بیچ رہے ہیں۔ اس سلسلے میں وزیر صاحب نے کوئی اقدام اٹھائے ہیں یا نہیں، وہ مجھے جواب دے دیں۔

جناب نجم الدین: سر ضمنی سوال دے۔۔۔۔۔

جناب پیر محمد خان: وزیرصاحب دِ اول دا خپله پارټی مطمین کړی نو بیا وروستو به مونږ له جواب راکړی۔

جناب عاشق رضا سواتی: شکریه سپیکر صاحب! طارق خان صاحب چه کومه خبره اوکړه، مونږ هم هغے سره متفق یو لیکن څه ستاسو په وساطت فتح محمد خان صاحب نه دا تپوس کول غواړم چه دے وروستو ورځو کښ څنګه چه ملک جهانزیب خان دا سوال کړے دے چه جنګل، دا بے دریغه کټ کیږی۔ ما څه فوټوان راوړی وو او دا فوټوان ما وزیر صاحب له ورکړی

وو، کم از کم پندره بیس فوټوان وو- په هغے کښې ځنګل چه کټ شوے دے، نو د هغے پورا یو Detail مونږ دوی ته ښودلے وو- نو دوی دلته چه لیکلی دی چه ډپټی کمشنر دیرکو یا کسی بھی ډپټی کمشنرکو رپورټ پیش کردی ہے اور ملزمان گرفتار کرلئے گئے ہیں- دے ګرفتاری سره هیڅ کار نه کیږی- د دوی په دے قانو ن کښې چه څه وخت څوک ګرفتار کړی، دوه ګهنټو، څلور ګهنټو کښې دننه د هغه سړی ضمانت اوشی او څه لږ غونډے پیسے ورکړی او هغه سړی بیاخی او بیا ځنګلے کټ کوی- نو چه کوم فوټوان دوی له ورکړی وو، نو په هغے کښې په جبړ علاقه کښې دومره زیات نقصان شوے دے خو د هغے سړی خلاف اوسه پورے هیڅ قسم څه اقدامات نه دی شوی- نو څه ستاسو په وساطت د دوی نه تپوس کوم چه د هغوی خلاف د کارروائی څه اراده شته اوکه نه- مہربانی شکریه-

جناب سپیکر: زه یو عرض کومه تاسو ته، ستاسو دا نور Questions دی، بیا به دفتر ته ماته نه راځنی چه هغه Questions به مے بیا راخی- ولے چه هغه ټیبل شوی دی تاسو ته او پنځه منټه نور پاتے دی تی بریک کښې، البته تاسو نه مے یوه رائے اغسته چه نن ستاسو د انی انی سی والا د هغه چه دے اسلامک آئیډیالوجی کونسل والا رپورټ باندے بحث د پرونه راسے راروان دے او نن بیا هغه مقرر دے- نو که تاسوماسره اتفاق کوئی نو دا بقیه ایجنډا چه کومه ده سوائے د یو Privilege Motion به په کښې واخلو او Leave applications، نو دا باقی به Stand over کړو ولے چه بیا به تاسو وائیی چه خمونږه هغه دغه پاتے شو او په هغے باندے به خبرے اوکړو- په د ے باندے مو اتفاق دے؟

آوازونه: ټهیک ده-

جناب سپیکر: بس ټهیک شوه-

جناب نجم الدین: سرخما دے کښې ضمنی سوال هم دے- خمونږه جهانزیب خان صاحب چه کومه خبره اوکړه سر، زیاته ایریا خما هم د ځنګلاتو سره تعلق لری- معین قریشی چه کوم وخت کښې پابندی لګولے وه، د هغوی

مقصد دا وو چه د دے سره به خنگلاتو ته تحفظ ملاؤ شی۔ د خنگلاتو کټایانے به بندے شی او په هغه وجه هغوی دوه کاله پابندی لګولے وه۔ ما مخکښے هم په دے اسمبلی کښ یوخبره کړے وه او هغه ما ستاسو په نوټس کښ راوستے وه ،د منسټر په نوټس کښ، اګر چه محکمه جنګلات په هغے کښ ډیر کوشش کوی چه مونږه په دغه خانے باندے پابندی اولګوؤ، لیکن زه یو عرض کوم سر !د خلقو روزګار دغه وو، هغوی ته رااتلټی ملاؤیده، هغوی په هغے کښ د ټرکونو مزدوری کوله، نورکارونه ماروته به نے کول جی۔ درے کاله اوشو چه د هغوی مکمل روزګاربند شوے دے او د هغے د وجے نه، زه نن دا تاسو ته وایم چه څومره دوی Legally لرګے ویستو، په بی سی په تهرو باندے ویستو، کوم طریقه کار نے کوؤ، یا د فارسټ په طریقه باندے نے ویستو۔ د هغے نه جی دوګنا او تین ګنا، زیات نقصانات روان دے او هغه نقصانات د برآول په لار باندے د کابل په تهرو باندے خی یا په بله لار باندے د کابل په تهرو باندے خی۔ خمونږ دا عرض دے چه د دے د پاره دِ یو طریقه کار منسټر صاحب جوړ کړی او لار دِ شی، چیکنګ دِ اوکړی۔ د هغه علاقے چیک: دِ اوکړی چه کوم وخت کښ لیګل کارکیدو، په هغه وخت کښ ډیر نقصانات شوی وو او که نه اوس په موجوده وخت کښ ډیر زیات نقصا نات شوی دی؟

<u>جناب سپیکر</u>: حاجی صاحب۔

<u>جناب محمد یوسف خان ترند</u>: جناب سپیکر! زه مشکوریم۔ دا جی ډیره اهمه خبره ده او د دے تعلق هزاره ډویژن او ملاکنډ ډویژن سره دے۔ خما په دے کښ تجویز دے ۔ هغه تجویز دا دے چه د پرائم منسټر صاحب دا حکم د دے د پاره وو چه دا خنګلات بچ شی۔ که چرے بچ کیدے خو بیا خیر دے که مالکانو ته تکلیف وو، مصیبت وو، هرڅه وو۔ هغه د قوم په مفادو کښ وه ، د هغوی په مفادو کښ وه۔ خه لس کاله به وروستو د هغے نه فائده اغستے وه۔ حقیقت دا دے چه خنګلو کښ بے انتها کټانی شروع ده او د هغے نه خنګلو ته نقصان هم اوشو، د حکومت او د دے صوبے نقصان اوشو۔ خکه د هغه 20% چه کومے راتلے، هغه هم په کروړونو، اربونو روپی وے۔

خما په دے کښې تجویز دے منسټر صاحب ته چه دے دِ مهربانی اوکړی د هزاره او د مالاکنډ ډویژن ممبران دِ یوه ورخ دے له مقرر کړی، مونږ دِ اوغواړی، ډیپارټمنټ دِ رااوغواړی چه مونږ په دے باندے تفصیلی بحث اوکړو۔ ځکه چه دا په دے هاوس کښې نه Discuss کیږی چه آیا دے پابندی سره فائده ده، نو بیا دِ وی او که د دے پابندی سره نقصان دے، هم د دے صوبے نقصان دے، هم د ځنګلاتو نقصان دے او هم د مالکانو نقصان دے۔ حالات دغسے دی جی لکه په چارسده، مردان کښې چه حکومت په ګنی باندے پابندی اولګوی۔ آخر دا مالکان به څه کوی؟ چه تنګ شی نو په جنګ شی۔ نو بیا به دغه ګنے په هره طریقه چه وی، هغوی به نے کټ کوی۔ حقیقت دا دے چه د ځنګلو مالکان دل برداشته شوی دی او شروع شوے دی پرے چه ځنګلے کټ شوے۔ نو خما دا تجویز دے چه دا د هزاره او مالاکنډ ډویژن ممبران دِ کینوی چه مونږ نه تجاویز واخلی۔ مونږ په دے باندے بحث اوکړو او د دے څه حل دِ رااوباسی۔

جناب سپیکر: جناب فتح محمد خان صاحب ! په دے تجویز باندے هم غور اوکړنی۔

وزیر جنګلات: مهربانی جی۔ پوائنټ ------

جناب بشیر احمد بلور (وزیر قانون و پارلیمانی امور) : پوائنټ عرض کوم، زه دا عرض کوم چه څنګه دوی اوفرمیل چه یوه کمیټی رااوغواړی چه د مالاکنډ او د هزاره ډویژن ممبران ------

وزیر جنګلات: د هغے خبره څه کوم ------

وزیر قانون و پارلیمانی امور : عرض کوم، چه یوخانے شی، دا خو پارټی ده، دا خو Interested دی چه یره دا کټانی اوشی۔ زه وایم چه Independent کمیټی ته چرته دِ حواله کړی، هغه به ډیره ښه وی۔ ولے چه دا خو پخپله پارټی ده دوی خو به وائی چه کټانی اوشی او دوی پیسے اوګټی۔ نو په دے وجه خما موقف دے چه Independent کمیټی ته دِ حواله کړی۔

جناب احمد حسن خان : بالکل سر، خو خمونږ موقف هم دے واوری هغه

کمیټی- بالکل سر، غیرجانبداره کمیټی، بلکه زه خو وایم چه دا کوم چه قائدین دی، بی بی صاحبه ده، پیرصابر شاه صاحب، لیډر آف دی اپوزیشن دے، بشیرخان دِ شی، خو خمونږ موقف دِ واوری- د مالاکنډ او د هزارے ډویژن د ممبرانو، بس-

سردار غلام نبی: جناب سپیکر صاحب اس کے متعلق میں بھی یہ درخواست کرونگا کہ ہزارے میں بھی بے حد کٹائی ہورہی ہے اور لکڑی کی سمگنگ ہورہی ہے ۔جب بھی جنگلات کے افسران صاحبان کو کہا گیا تو وہ یہی کہتے ہیں کہ جی ہم کوشش کررہے ہیں۔ یہ ہمیں یقین ہے کہ وہ کوشش ضرور کرتے ہیں،لیکن سمگر ان سے زیادہ ہوشیار اور ان سے زیادہ تیز ہیں۔ تو میں یہ سمجھتا ہوں کہ ان سمگرز پر بہت زیادہ پریشر ڈالنا چاہئے۔ تو اس پہ کمیٹی ہو جائے تو فائدہ ہو گا۔

جناب عاشق رضاسواتی: پوائنٹ آف آڈر سر،

جناب سپیکر: جی،

جناب عاشق رضا سواتی : دا چه سردارغلام نبی صاحب اوے چه سمگلران چه کوم دی، نو زه خو وایم چه د محکمے د اهلکارانو سره ملاؤدی، دا ورسره ملاؤ دی- که دوی ورسره ملاؤ نه وی نو قسم دے چه یو فټ لرگے چرته څه غارے ته لاړ شی-

جناب سپیکر: جی منسټر صاحب-

جناب احمد حسن خان: پرابلم دا دے چه منسټر شریک، محکمه شریکه، نو بل هیڅ نه شته دے دغه کلیه ده جناب سپیکر، (قہقے)

وزیر جنگلات: نو خبره دا ده جی ښنگه خما دا ورونړه وائی، دے سره خو خما مکمل اتفاق دے بلکه دوی به خبر نه وی دا Ban معین قریشی لګولےوو او بیا د پیپلز پارټی په تیردورکښ هم جاری وو- بیا خمونږه په دے دورکښ هم جاری دے- د مرکز د طرف نه لګیدلے دے- د هغے باوجود ما یو درے ښلورسمریز، که دوی سره زه خبره کوم جی خودوی په هغے باندے خان په هغه وخت باندے نه پوهه کوی خما د طرف نه درے ښلورسمریز تلی دی او دوی چه کومے خبرے اوکړے، دے سره خما مکمل اتفاق دے چه په Ban

باندے ځنګل بچ کیږی نه یا چه دا ګومره Wind falls او Dry trees وی یا د کومو اونو وخت پوره شوے وو، هغه نه وهلے کیږی او د هغے په ځائے باندے وارہ بوټی وهلے کیږی۔ د هغه نه فائده نشته دے۔ اوس ما دوی ته اول خبره اوکړه چه په 26 تاریخ باندے مونږ میټنګ راغوښتے دے، د مالاکنډ او د هزارے ډویژن ممبرانو د ټولو، سینټران به په کښ هم وی۔ د قومی اسمبلی ممبران به هم وی او د دے اسمبلی ممبران به کښ هم وی۔ مونږه په جمع باندے کینو او چه دوی څه وائی، په هغه طریقه باندے، ځمونږه د طرف نه چه کم ازکم ګومره کیدے شی، او مونږه به مرکز ته خپل تجاویز اولیږو بیا باقی احتیار د هغو دے۔ دا بله خبره چه ځنګه اوشوه جی او تاسو اوے چه دا نه شی کیدے۔ دا ولے شوے ده؟ وزیر اعظم هلته کښ څی او خلقو ځنګل کټ کړے دے۔ دا حقیقت دے، وزیر اعظم چه تلو او وزیر اعظم ته پته اولګیده چه ځنګل کټ شوے دے، هغوی ته اوونیلے شو او د هغه نه مخکښ لکه ځنګه چه ځمونږه طاؤس خان ملک پاسیدو، کله چه Ban اولګیدو نو بیس هزار اونے دوی ناجائزه هم کټ کړے خود دے سره د حکومت سره، زه خو وایم چه داسے پابندی وے چه هغه خلقو نه کټ کولے خو چه خلق د خپل ځنګل او د خپل خان پخپله دښمنان دی او هغه کټ کوی او بیا دا طمع کوی چه د فارسټ ګارډ یو سړے به راځی او هغه به مونږه له ځنګل ساتی۔ فارسټ ګارډ خو د دے د پاره څی چه زه په کښ هم څه پیسے واخلم۔ که فارسټر څی نو د هغه به هم دا خیال وی پخپله چه یو سړے خپل مال نه ساتی، د کورخاوند پخپله باندے خپل کور نه ساتی او په دے طمع کوی چه باهر ګوکیدار دے، زه به د دے طرف نه په غلا باندے ځیزونه ګزارم، کله په بلنی باندے او کله په چنه باندے او کله په څه باندے، او دا ګوکیدار نے ولے نه ساتی؟ نو ګوکیداربه ځنګه اوساتی؟ پکار دا ده چه خلق پخپله دا اوساتی۔

محمد یوسف خان ترند: جناب سپیکر! زه د منسټر صاحب د دے یوے خبرے سره اتفاق نه کوم چه خلق د خپل خان دښمنان دی، د ځنګلو، دوی پالیسی داسے جوړه کړه چه خلق نے په دےباندے مجبورکړه۔ یو سړی سره د خپل

د کور واک او احتیار نه وی او بل دے پرے پابندی لګوی او هغه دِ د لوګے مری، هغه به د هغه کور سره څه کوی؟

وزیر جنګلات: دا پابندی هم د دے وجه نه لګیدلے وه چه دا ځنګلے بے تحاشا کټ شوے وے اوختمیدو ته رسیدلے وے او مختلفو که فارسټ ډیپارټمنټ په خپله کولے، هغو هم کټ کړے بیا چه ایف ډی سی ته حواله کړے، نو هغوی هم بے تحاشا کټ کړے، بیا چه Societies راغلے نو Societies خو د سره ختمولے۔ نو ban هم په دے وجه اولګیدو چه نه ختمیږی خو د ban هم دا پته اولګیدله۔ دا څلور، پنځه کاله چه Ban لیګدلے دے چه دا نے علاج نه دے ځکه هغه کټانی ناجائزه اوس هم جاری ده خو ځنګل والا چه کوم دے چه وزیراعظم تلے وو او هغه ته پته اولګیده اوچه کوم کسان نے نیولی وو، تاسوخبر نیی جی هغوی لس ورځے پس، د هغوی ضمانتونه شوی وو او ازاد شوی دی۔ زه پخپله بانډے، جهانزیب خان چه دا خبره کړے ده کوم ځانے ښودلے دے، زه پخپله دغه ځانے ته تلے یم، ما لیدلی دی جی بے تحاشا ونے اوس هم پرتے دی۔ تاسوکه یوه کمیټی مقرر کړنی او هغه اولیږنی ځکه چه ناجائزه کټانی شوے ده۔

جناب سپیکر : جی بی بی صاحبه

وزیر جنګلات :بیا چه په کومے لارے بانډے زه راتلم، په لارے، یو منټ زه خبره ختموم۔

جناب سپیکر :بس ټهیک شوه جی، ټهیک شوه

وزیر جنګلات: نو په دے لارے بانډے هم، نه جی تاسوخبره دا اوکړه چه دا ولے داسے شوی دی؟ وزیراعظم تلو او خلقوځنګل کټ کړے دے۔ زه تاسو ته د دے پس منظر ښانم جی۔ په لارے بانډے چه زه واپس راتلم د کوهستان د هغه کمراټ نه، نو په لاره بانډے هم په ډیرو ځایونو-----

جناب سپیکر: تاسو مائک بند کړنی جی، مائک بند کړنی۔

وزیر جنګلات : داسے نورے ونے اولیدے جی چه خلقو راوړے وے په بهانه بانډے وے چه دا مونږه د لوکل استعمال د پاره کټ کړی دی او تیارے د دے د

پاره ساتلے وے چه کله اجازت اوشی نو دا به په کښں مونږه اوباسو- پخپله ما اولیدے هم، خو څه طریقه کیدے شی د دیرسره څه اوکړے شی- خمونږه په سوات کښں هم کټ کیږی، ما ته پخپله باندے معلومه ده، دس هزار په کسانو باندے کیسونه شوے دی چا چه خنګلے کټ کړے دی یا چا په کښں کورونه جوړکړی دی یا په کښں زمکے جوړےکړے دی- هغه کیسونه چلیږی که خنګل والا څوک اونیسی په درے یا څلور ورځو پس بیا هغه پریږدی لکه څنګه چه عاشق رضا خان اوے چه هغه خو که کیس جوړ هم شی نو بیا ئے پریږدی- دوی د خپل خاص کیس ذکر اوکړو د دوی کیس ما د دوی د مخے، ما Chief Conservator له ورکړو چه په دے باندے ته کارروائی اوکړه- هغه بیا اوے چه زه لاړم پخپله باندے، Chief Conservator لاړو جی، هغه وائی چه ما معلومات اوکړو، کوم چه دوی وائی، چه هلته کښں پراته دی تازه، نو هغه وائی چه تازه پراته نه وو خو بهر حال کټائی، د کټائی نه زه خپل خانی انکارنه شم کولے چه دا یو حقیقت دے چه ناجائزه کټائی کیږی- خو د دوی نه او د دے ټولو مالکانو نه دا سوال کومه چه دوی پخپله باندے دا خپلے خنګلے نه ساتی نو د دغه دِ طمع نه کوی چه دا به مونږ له د باهر نه څوک اوساتی- چه دوی ئے ساتی نو د دوی څوکیدار چه کوم وی، نو هغه به د دوی ملګرتیا کوی-

جناب پیر محمد خان: سپیکر صاحب! د دے خو مطلب دا دے چه ------

جناب سپیکر :دا بی بی مخکښں پاسیدلے وه جی کینئی-

جناب پیر محمد خان: د دے مطلب دا دے چه حکومت فیل شو په خنګل باندے په پابندئی کښں؟

جناب سپیکر :کینه پیر محمد خان بیا خبره اوکړه

بیګم نسیم ولی خان: محترم سپیکر صاحب ! دا کوم سوال چه هاؤس ته راغلے دے او په کومه طریقه خبره په دے اوشوله، د دے نه خو داسے ښکاره کیږی چه د فاندے په خانے تاوان روان دے او خما خیال دے چه پاکستان کښں څومره خنګل خمونږه په خپله صوبه پښتونخوا کښں دے، دومره خنګل هیڅ چرته

کښې نشته مشترکه طور۔ نو دا مسئله ټوله د دے صوبے ده۔ دیخوا چه د وزیر صاحب خبره اورو، نو هغه صورتحال هم مایوس کن شان ښکاری خکه چه هغوی پخپله په دے تیاره کښې دی چه نه پوهیږو چه مونږه څه چل اوکړو؟ څما یو Suggestion دے که دا هاوس ئے منی، چه دے له یوه وړه شان کمیټی جوړه کړے، بشیر خان صحیح خبره اوکړه چه هغه خلق دِ نه اچوی چه مالکان وی خو یقیناً هغه خلق به په کښې اچول غواړی چه په دے صورتحال پوهه وی که زه اوس د دے لرګی خبره کوم نو زه په صورتحال نه یم پوهه خو دا کوم چه دے ملګرو خبرے اوکړے د دے نه زه چه کوم څیز راټولومه او کومه نتیجه ترے نه اخلم، نو نتیجه دا ده چه پابندی لګیدلے ده۔ د پابندی باوجود چه څومره به کټائی کیده نو د هغه نه زیاته کټائی کیږی او هغه کومه ضروری کټائی چه ده، د ځنګل د ټولونه ضروری خبره دا وی چه ضروری کټائی په هغے کښې کول غواړی چه ځنګه ورته دوی Wind falls وائی او ورته Old age وائی نو چه Old age والا ولاړ وی نو لاندے چه بچوړنی ورته ولاړ وی نو هغه ترینه وده نه کوی هغه اونه ضرور وهل غواړی اوهغه خوامخوا، محکمه د هغے نشاندهی کوی۔ نو که محکمه نن اوو ټله نو شاید چه دومره نشاندهی به د دے، او وزیر صاحب وائی چه قام دِ پخپله د دے دغه اوکړی نو دلته کښې خود ممبرانو د طرفه خبره دا راغله چه د قام هم هغه خلق وهی چه څوک ئے څوکیداران دی خکه چه د هغوی بله لار نشته چه Wind falls ورله نه ورکوی او old age ورله نه ورکوی د هغے وجه نه د هغوی رزق بند شوے دے، هغوی لګیا دی په دے بل طرف، نو یو خوا د ځنګلو تحفظ چه دے د ټول نه ضروری څیز دے خو بیا ځنګل په دے بے دری باندے قام ته حواله کول دا د هغے نه ډیر ګران کار دے۔ نو زه وایمه چه یو کیمټی ورله تاسو جوړه کړئی او محدود وخت ورله ورکړنی چه په دے باقاعده یو سروے اوکړی په دے یوباقاعده خپل رپورټ اولیکی۔ صحیح صورتحال صوبے ته اوښائی او حکومت ته اوښائی او دا حکومت په د ے مجبور کړی چه حکومت لاړشی او هغه مرکز سره په دے خبره اوکړی چه دا سراسر تاوان د دے صوبے دے د بلے صوبے دے کښې هیڅ نشته۔ یو سرے

راغے او هغه يو حکم پاس کړو نو ضروري نه ده د قرآن تکے نه دے چه دا حکم به په کلونو کلونو چليږی- پاليسی خلق بيا Revive او بيا ئے Revise کوی بيا پرے يو سنجيده سوچ کوی او سنجيده فکر کوی- سنجيده سوچ او فکر دا دے چه په دے پاليسی بيا ازسر نو غور کول پکاردی، دے له يوه کميټی جوړه کړنی چه هغه کميټی خپل حقيقی خبره اوکړه، هغه خلق په کښ واچونی چه د هغوی خنګل سره هيڅ تعلق نشته، د کتانی ورته هيڅ فائده نه رسی او هغه يو صحيح جائزه واخلی د دے خبرے چه دا ممبران کومه خبره کوی دوی به زياتے نه وانی دا د اسمبلی ممبران دی، په فلور آف دی هاؤس څوک داسے خبره نه شی کولے چه سبا ئے سر ته نه شی رسولے نو يقيناً د دوی نه په کښ ممبران واچونی، د مالاکنډ ډويژن سرے هم په کښ واچونی او د هزارے ډويژن سرے هم په کښ واچونی چه هغوی د هغه ځائے صورتحال اوښانی يا که چترال کښ لرګے دے د چترال سرے هم په کښ واچونی او بله ورله تاسو يوه وړه شان کميټی جوړه کړنی او ډير زر ورته دا کار داسے مه کونی، درے مياشتے او څلور مياشتے کونی ئے مه- لږ وخت ورله ورکړنی چه خپل رپورټ راوړی او حکومت ته ئے کيدی او حکومت په هغے مخکښ لاړ شی مرکزی حکومت سره خبره اوکړی- نو زه وايم چه که په دے طريقه اوشی نو دا به يو صورت جوړ شی ګنی نو په دے هاؤس کښ يوسف ترند صاحب دغه اوکړو Suggestion ئے پيش کړو چه مونږه دے مالاکنډ او د دغه خلق بوخواو مونږه سره دے خبره اوکړی- وزير صاحب اومحکمه به تاسوسره کينی اوهم دغه جواب به درکړی چه دمرکزنه پابندی ده- د مرکز پابندی دوی نه شی لرے کولے د مرکز پابندی له به يو طريقه کار کوؤ چه هغه طريقه کارجوړ شی او مونږ خپل حکومت ته دا اووايو چه دا خمونږه صوبائی حکومت لاړ شی او مرکزی حکومت ته صورتحال کيږدی او هغه پرے مطمئن کړی نو هله به دا پابندی لرے کيږی- نو که دے هاؤس خما د دے خبرے سره اتفاق وی نو تاسو ورله يوه کميټی جوړه کړنی سباله او کار ورته حواله کړنی- هفته يا دوه هفتے ورله ورکړنی چه زر تر زره د دے رپورټ راشی ډيره مننه-

جناب سپیکر: هسے دغه ورسره -----

جناب احمد حسن خان: بی بی ډیره بنه خبره کوی -----

جناب سپیکر: یو منټ جی، یو تجویز داسے پیش کوم خما خپل دا خیال دے جی چه Standing committee خپله هم شته، هغے سره به Over and above that په کښ به نورکسان دغه کړو که فرض کړه، که ضرورت وی نو هغه به بهترې وی ورله جی په یو څیز باندے خمونړه خپله کمیټی وی نو بله کمیټی هسے هغه دغه نه کوی۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! مونړ د بی بی ډیره زیاته شکریه ادا کوو۔

جناب محمد یوسف خان ترند: په دے کښ یو غرض کوم-----

جناب احمد حسن خان: خمونړه یو ډیره زیاته مسئله هغوی په داسے طریقه پیش کړه چه د ایوان د دوارو طرفینو ورسره مکمل اتفاق دے۔ لهذا زه دا تحریک وړاندے کوم چه دا لکه څنګه چه تاسو ا وفرمائیل په دغه رنړا کښ دغه کمیټی کښ متعلقه کسان دِ په کښ شامل شی د جائز کټائی او د صحیح منصوبه بندی د پاره دِ زرترزره بندوبست اوکړےشی۔ د دے د پاره زه دا تحریک وړاندے کوم۔

وزیر جنګلات: زه یوه خبره کوم په دے سلسله کښ جی میټنګ هم هغه بله ورخ بیا چیف منسټر سره شوے وو۔ تقریباً یو دوه ورځے کیږی او د هغه نه پس بیا مونړه د دے د پاره د مالاکنډ ډویژن او هزارے ډویژن والا خکه ځنګلے زیاتے په دے دوه ډویژنو کښ دی د دے لکه څنګه ما چه مخکښ خبره اوکړه د دے د پاره مونړه ټول ممبران سینټران د قومی اسمبلی ممبران هغوی ته مونړه کاغزونه لیږلی دی او سوال مو ورته کړے دے چه په 26 تاریخ باندے درے بجے تاسو راشئی اول به مونړه په دے باندے خپله خبره اوکړو چونکه مالکان دا دی دوی به خبره اوکړی مونړه به خبره اوکړو او فارسټ والا به هم د ځان سره کینوو او یو طریقه کار به جوړ کړو او هغه به تاسو ته مخکښ کړو او د هغه نه مخکښ تاسو کمیټی جوړه کړئی هر څه طریقه چه کوئی د هغے نه پس بیا اختیار تاسو دے چه تاسو څه طریقه کوئی۔

جناب سپیکر: داسے کار به اوکړو جی، یو منټ جی، سټینډنګ کمیټی به مونږه خپله جوړه کړو۔ داسے Immediately خو هغوی په دوه ورځو کښ رپورټ نه شی ورکولے۔ 26 تاریخ خو ډیر لنډ دے که سبا ستاسو هغه فیصله هلته صحیح شوه او اومنلے شوه خو ډیره ښه ده، ګنی دا کمیټی به خپل کار کوی او په سټینډنګ کمیټئ کښ به د دے دغه بیا راشی ولے چه د هغے تاسو پخپله هم ممبر یئ، Ex-Officio ممبر یئ د سټینډنګ کمیټئ تاسو هم خپله، د فارسټ والا، دا خو به ځی دا فارسټ سټینډنګ کمیټئ ته، نو تاسو د هغے خپله ممبران یئ نو که فرض کړه بیا دلته کښ ستاسو که څه فیصله شوے وه نو تاسو به هغه په هغے کښ Convey کړئ، بس قیصه به ختمه شی نو To cut it short , is it the desire of the House that the Question asked by Malik Jehanzeb Khan ,MPA, be reffered to the Standing Committee on Forest .

(The motion was carried.)

Mr . Speaker: The 'Ayes' have it . It is referred to the Standing Committee on Forest with the direction that all the concerned MPAs from the Malakand and Hazara should , if they like , be associated with the Standing Committee . We will reassemble after thirty minutes , Thank you very much.

(اس مرحلہ پر ایوان کی کارروائی چائے کیلئے ملتوی کی گئی۔)

(وقفہ کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔)

## معزز اراکین کی درخواستیں

جناب سپیکر: جن معزز اراکین اسمبلی نے رخصت کیلئے درخواستیں ارسال کی ہیں، ان کے اسمائے گرامی یہ ہیں: جناب شیر زمان شیر صاحب نے بھی 20/12/1997، جناب سید رحیم صاحب نے 20/12/1997 تا 22/12/97، جناب آفتاب احمد خان شیر پاؤ صاحب نے 20/12/97، جناب حمید اللہ خان صاحب نے 20/12/1997، جناب سلیم خان 20/12/1997 تا 23/12/97 اور جناب شعیب خان صاحب نے 20/12/97 کیلئے

Is it the desire of the House that leave may be 23-12-1997 تا granted to the honourable Members ?

(The motion was carried)

Mr. Speaker : Leave is granted.

جناب ہمایون سیف اللہ خان : اجازت دے جناب سپیکر صاحب،

جناب سپیکر : جی

جناب ہمایون سیف اللہ خان : دا جی ډیره ضروری خبره وه 17 تاریخ کښې راغلے ده په Dawn اخبار کښې سپیکر صاحب نور به خلق هم جمع شی کنه، رابه شی ، NWFP wants distribution wing from WAPDA دا د ستره تاریخ یو بیان دے چه د دوی په محل کښې وزیر اعلیٰ صاحب او د چیئرمین سره چرته کښې شوے به وی، نو سپیکر صاحب زه دومره خبره تاسو ته کومه چه د نن نه لس کاله اول د صوبائی حکومت ته دا Offer شوے وو او هغوی یوه کمیټی جوړه کړے وه، او کمیټی رپورټ تقریباً په 20 pages باندے وه، نو Before they decide the same یو خو د هغه کمیټی رپورټ ورته پیش کړے دے اسمبلئی ته، او د هغے کمیټی رپورټ دا وو چه If any funcation of WAPDAhas to be taken

جناب سپیکر : دا تاسو د دوی دغه ته لږ توجه اوکړنی۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان : If any functions of WAPDA has to be taken چه کمیټی دا ------

جناب سپیکر : چه رپورټ دِ پیش کړی تاسو دا وائیی؟

جناب ہمایون سیف اللہ خان : رپورټ دِ پیش کړی د اسمبلی ټولو ممبرانو ته د هغے په 20 صفحو باندے هغه Recommendations وو، او په هغے Recommendations کښې دا وو سر چه If we have to take any funcation from WAPDA نو پکا دا وه چه مونږه Generation واخلو او دے Distribution ته لاس نه لګوؤ نو خما سپیکر صاحب دومره دغه ده چه څه وجوهات وو چه په دے لس کاله کښې کوم حالات Changeشول چه دوی

اوس Distribution له منډه کړه او Generation تے پرښودلو نو دا ضروری خبره ده And before going to decide this thing.

Deciding it دا دِ یوه ورخ د دے د پاره مقرر شی او په دے باندے دِ Discussion اوشی - او Before that دوی دِ هغه رپورټ مونږ ته پیش کړی- Thank you very much sir!

ملک جهانزیب: پوائنٹ آف آرڈر سر!

جناب سپیکر: جی

ملک جهانزیب: زه خو دا عرض کوم، اوس دا راروان سوال چه کوم وو 338، دا ډیر اهم دے جی او تاسو خما خیال دے -----

جناب سپیکر: که ډیر زیات اهم دے او که لږ اهم دے خو چه څه Procedure دے د هغے رولز نه زه اخوا دیخوا نه شم کیدلے، First hour د دغے د پاره، وی او تاسو ته ما بار بار دا Request اوکړو او هر وخت درته دا Request کوم چه مهربانی کوئی دومره ټائم مه اخلئی- تاسو په سپلیمنټری او په پوائنټ آف آرډر باندے په یو سوال باندے وخت اولګوئی-

ملک جهانزیب: دا خو جی دا نورخلق کوی، خما خو په دے دریو میاشتو کښ دا یو نمبر راغے-

جناب سپیکر: دا د ټولو سره هم دا حال کیږی، نو زه خو بار بار دا دغه کوم ماته خو ټول تاسو یو شے یئی زه خو تاسو منع کولے نه شم که هر یو ممبر صاحب پاسی بیا دغسے کیږی-

ملک جهانزیب: مهربانی اوکړئی دا Accept کړئی په بل دغه کښ راله راولئی-

جناب سپیکر: دا جی په بل کښ نه شی راتلے، هغه تاسو ته ټیبل شوے دے د هغے Answer

جناب بشیر احمد بلور ( وزیر قانون و پارلیمانی امور ): جناب سپیکر صاحب! همایون خان چه کومه خبره اوکړه، دا ډیره اهمه او ضروری خبره ده- دا به ډیره ښه وی چه دوی یو Call Attention Notice دِ تاسو ته درکړی او تاسو په ورخ دوه کښ واخلئی چه مونږ د ډیپارټمنټ نه پوره معلومات اوکړو او د هغے د

رپورټ پته هم اوکړو، چه مونږ څه ورسره کولے شو نو انشاء الله هغه شانتے به کوؤ، خو چه ډیپارټمنټ مونږ Brief کړی نو مونږ به هغه شان خبره کوؤ۔

جناب سپیکر: دا به صحیح وی، همایون خان دا به ټهیک وی۔

جناب همایون سیف اللہ خان: سپیکر صاحب! ما خو Simple request اوکړو۔

جناب سپیکر: خیر څه فرق نه پریوزی همایون خان۔

جناب همایون سیف اللہ خان: هغه زه کوم جی خو دوی ته دومره Request دے چه هغه په 20 صفحو باندے چه کوم Recommendations وو، دا نن نه لس کاله اول، هغه خو دے راکړی کنه جی۔

جناب سپیکر: دا خو خیر دے، دا په هغے کښې دغه کړنی۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور: مونږ خو دا عرض اوکړو، چه دوی دِ Call Attention Notice راکړی، ډیپارټمنټ به زه رااوغوارم او ما به هغوی Brief کړی او هغه رپورټ به هم راله راوړی، په هغے کښې که څه شے وی، نو مونږ به بیا دلته ورته پیش کړو۔

جناب سپیکر: مطلب دا دے چه صحیح جواب تاسو ته ملاؤ شی کنه جی۔ صحیح دغه اوشی چه د گورنمنټ څه دغه دے او څه پکار دی۔ په اسلامی نظریاتی کونسل باندے اوس ------

جناب نجم الدین: سر! خمونږ Call Attention Notice دے۔ (شور)

جناب احمد حسن خان: که خما په دے کښې اجازت کونی نو زه به نے وړاندے کړم۔

جناب نجم الدین: سر! خمونږ په دے کښې هم اجازت پکار دے۔

Mr. Speaker : Mr. Ahmad Hassan Khan MPA, to please move his Privilege Motion No.43.

جناب احمد حسن خان: شکریہ جناب سپیکر! جناب والا! مورخہ 16 دسمبر کی رات پی ٹی وی کے خبرنامے میں اے این پی، اپوزیشن اور آزاد ممبران کے جناب گیان سنگھ ایم پی اے کے اغواء کے سلسلے میں احتجاجی بائیکاٹ اور سپیکر چیمبر میں ان کے پاس جناب

وزیر اعلیٰ صاحب اور اسمبلی میں مسلم لیگ کے پارلیمانی لیڈر سمیت مسلم لیگ سے تعلق رکھنے والے وزراء اور ممبران اسمبلی کے آنے اور احتجاجی قائدین اور ممبران سے بائیکاٹ ختم کرنے اور اسمبلی میں آ کر وزیر اعلیٰ کا موقف سننے اور دیگر کارروائی میں حصہ لینے کی درخواست کو اس طرح پیش کیا ہے یا رنگ دیا ہے کہ گویا وزیر اعلیٰ اور ان کے ساتھی حضرات کی بجائے اے این پی 'اپوزیشن اور آزاد ممبران نے اپنی خواہش پر جا کر وزیر اعلیٰ سے ملاقات کی ہو اور معزول ممبر کی بازیابی کی درخواست کی جس سے ان ممبران اور قائدین کی مستند شہرت کو نقصان پہنچا ہے اور بظاہر ایسا کرنے سے قائدین سمیت ممبران کے حقیقت پسندانہ سیاسی عمل کو منفی انداز میں پیش کیا جا چکا ہے ۔اس کے علاوہ پی ٹی وی نے اس سے ایک دن قبل بھی خبرنامہ میں اے این پی 'اپوزیشن اور دیگر آزاد ممبران کے اسمبلی سے گورنر ہاؤس تک احتجاجی واک کو مکمل طور پر بلیک آؤٹ کیا تھا ۔پی ٹی وی کی انتظامیہ کے اس طرز عمل سے تمام ایوان کے ممبران کا استحقاق مجروح ہوا ہے اور ہوتا رہا ہے کیونکہ یہ اس اسمبلی سے متعلق پی ٹی وی کی پالیسی کا تسلسل ہے ۔لہذا برائے مہربانی میری یہ تحریک استحقاق منظور کر کے استحقاق کمیٹی کے سپرد کیا جائے اور پی ٹی وی انتظامیہ کو ان دونوں راتوں کے خبرناموں کے متعلقہ حصوں کے ریکارڈز پیش کرنے کے احکام جاری کئے جائیں ۔ جناب سپیکر! زه ستاسو ډیر زیات مشکور یم اپوزیشن یا Treasury benches یا حکومت دا چه څنګه عام طور باندے ونیلے کیږی د یو کاړی دوه پہیے دی او چه په دے کښ یوه پهیه نه وی نو هغه بله کارنه کوی، او بیا دا خبره هم د چا نه پټه نه ده، چه د صوبه سرحد د اسمبلئی همیشه کارروائی قابل فخر پاتے شوے ده او د روایاتو په بنیاد باندے د دے کارروائی د نورو صوبو د پاره او که Contempt نه وی نو زه وایم چه د قومی اسمبلئی او د سینټ د پاره هم دے یو مثالی کردار همیشه ګرځولے دے۔او دا خل ستاسو په مشرئی کښ دا روایات چه کوم دی نورخه شوی دی د سابقه نه زه الحمد اللهؒ په ډیر صداقت سره دا خبره کوم په بانګ دهل دا خبره کوم چه دا بهترنی طرفته تلے دی او په دے کښ څه کمے او څه کوتاهے نه دے راغلے- پارلیمانی روایات دا دی چه اپوزیشن یا د حکومت سره تعلق لرونکی کوم دوستان چه یوه خبره غلطه اوګنړی او د هغوی د خپل خیال په مطابق صحیح نه وی او ناجائز، ناروا ئے اوګنړی، نو په هغے

باندے په مختلف احتجاجی طریقے اختیار کړی چه په هغے کښې یوه معروف طریقه احتجاج، بائیکاټ دے او د ښه حکومت او په ښه حکومت کښې د خو ممبرانو او د خو وزیرانو دا همیشه طریقه کار پاتے شوے دے۔ چه هغه د دغے احتجاجی بائیکاټ ممبرانو لره د عزتمندئی په شکل کښې ورشی۔ د هغوی سره ډیره درنه او خوږه خبره اوکړی او هغوی قائل کړی او په ډیر باعزت طریقه هغوی دلته کښې دے ایوان ته راولی۔ هم د دے طریقه کار تحت جناب وزیر اعلیٰ، جناب پیرصابر شاه او د مسلم لیګ د نورو ورونړو سره سره وزراء کرام چه کله مونږه احتجاج اوکړو د دے مسند قائدینو په مشرئی کښې د محترمے بی بی صاحبے او د آفتاب خان شیرپاؤ او د نورو آزاد او نورو جماعتونو سره تعلق لرونکو ملګرو په دغه کښې، دوی ډیر په درنه طریقه باندے ستاسو چیمبر ته راغلو او مخکښې چه تاسو چه په مونږه باندے چائے اوڅکله، او بیا تاسو لاړئی څکه چه تاسو له چه ښکه پکار وه، تاسو د هغے Proceeding حصه نه جوړیدل غوښتل او د خپلے غیر جانبدارئی په بنیاد باندے تاسو چه کله اووتئی نو خونړ په مینځ کښې ډیرے ښے خبرے اوشولے۔ زه د دے قائدینو په هغے وخت کښې دا شکریه ادا کوم چه دوی په دومره ښه طریقه سره خبره اوکړه چه مونږه دا خپله اخلاقی مجبوری ګنړله چه مونږ دِ ایوان ته واپس راشو۔ مونږ دِ د وزیر اعلیٰ صاحب خبره واورو، او مونږ دِ د ایوان په کارروائی کښې حصه واخلو۔ خو جناب سپیکر! په دغه شپه باندے په اتفاق سره چه ما د ټی وی خبرنامه کتله نو په هغے کښې دا مختصر خبر ورکړو۔ د دے ټول خبر، چه دا کوم لمبا چوړا په صوبه سرحد کښې څه تیریدو او د معزز اراکینو څه جذبات وو؟ د ګیان سنګه ورورد خاندان کوم غم او تکلیف وو؟ او مونږه د Treasury benchs او د اپوزیشن ورونړه په دے غم کښې څومره شریک وو؟ دا ټوله خبره یو طرفته پاتے شوله او مختصر غونډے ئے اوونیل چه د اپوزیشن ممبرانو او لیډر آف د اپوزیشن هم او محترمه بیګم نسیم ولی خان صاحبه لاړل او د وزیر اعلیٰ صاحب سره ئے د هغه په دفتر کښې درخواست اوکړو او د هغه د رهائی د پاره ئے ورته درخواست اوکړو۔ زه دا نه وانم چه کنی مونږه به وزیر اعلیٰ لره

نه خو، وزیر اعلیٰ قانداپوان دے، دا ضروری ده چه مونږ به په بعض موقعو کښې هغه لره خو، دا ضروری ده چه مونږ به هغوی قانداپوان منو، لکه څنګه چه هغه او د هغه ملګری مشران مونږه بطور اپوزیشن منی او خمونږ حق منی او مونږ حکومت او د حکومت حق منو- خو دا خبر داسے وو جناب سپیکر! چه د دے خبر په وجه باندے په ټول پاکستان کښې د دے مسند پارټو په Followers باندے منفی اثر پروت، او په داسے یو صورت حال کښې وړاندے کړو چه د هغے منفی اثر د دے قاندینو په سیاسی عمل باندے وو او په سیاسی کردار باندے وو او په سیاسی بلندنی باندے د منفی کولو یو کوشش شوے دے- بیا جناب سپیکر! قابل افسوس خبره دا ده چه د دغے نه یوه ورځ مخکښې چه کوم احتجاجی واک آوټ شوے وو، د هغے په پی ټی وی باندے مختصر غوندے په خبرنامه کښې خبر رانغے- زه دا وانم چه دا خبرے ټولے د پی ټی وی د هغے مسلسل پالیسئی تسلسل دے، کوم چه هغه دے صوبے ته او د دے صوبے دے منتخب نمانده ګانو ته په حقارت آمیز نظر سره ګوری- دا داسے صورت حال دے چه خما په خپل خیال دوی کینول غواړی او دوی راوستل غواړی- دوی مخکښې ته حقائق ایخودل غواړی او دوی په دے باندے پوهه کول پکار دی چه د دے صوبے څه حیثیت دے او د دے د ممبرانو څه حیثیت دے او په میډیا کښې او په سرکاری کوریج کښې د دوی څه مقام دے؟ لهذا زه خبره نه اوږده کوم او نور به زه وړاندے کړم په کمیټنی کښې دننه او زه تاسو ته درخواست کوم او خما دا یقین دے چه خما د حکومت ورونړه به هم خما سره په دے کښې مرسته اوکړی چه دا تاسو Privilege Committee ته وړاندے کړنی جناب سپیکر! او خصوصی درخواست به ورسره دا اوکړم چه د 16,15 تاریخ د خبرنامو د دے متعلقه حصو ریکارډ دِ کمیټنی ته وړاندے کړی، چه زه دا په کمیټنی کښې ثابت کړم او خما په خیال جناب سپیکر! تاسو پخپله څو څو خله د دے خواهش اظهار کړے دے چه دا څه کول پکار دی د پی ټی وی انتظامیے لره؟ په هغے څوک عمل نه کوی- خمونږ منسټر صاحب چه نن دلته کښې نشته دے وزیر اطلاعات، هغه څو څو خله دا خواهش ظاهر کړے دے او څوک پرے عمل نه کوی- وزیر اعلیٰ

صاحب د دے خواهش اظهار کړے بدے د Treasury benches او د اپوزیشن څه متعلقه ورونړو دا خواهش کړے دے، څوک پرے عمل نه کوی۔ خما خیال دے دا یوه موقع ده چه انشاء اللّٰه عمل درآمد به پرے اوکړے شی او د انده د پاره به ټی وی انتظامیه او فیډرل انفارمیشن منسټری محتاط وی. او خما دا خیال دے چه که نور هیڅ هم اونه شی جناب سپیکر! نو انشاء الله و تعالیٰ مونږ ته به په سرکاری میډیا باندے خپل حق ملاؤ شی۔ جناب سپیکر! خما په ډیره عاجزنی سره دا درخواست دے چه دا معصوم او پاک Privileg motion چه کوم دے دا Privilege Committee ته حواله کړنی چه حقائق ثابت شی۔ Thank you Mr.Speaker-

<u>جناب سپیکر</u>: جناب پیر محمد خان۔

<u>جناب پیر محمد خان</u>: شکریه، جناب سپیکر! زه د احمد حسن خان د دے استحقاق حمایت کوم او ستاسو ډیره بهترینه فیصله په دے کښ وه، څکه چه ستاسو خبرے چه په دے هاؤس کښ وی، هغه فیصله وی، که د ممبرانو د پاره وی او که د ټی وی د پاره وی او که د اخبار والو د پاره وی۔ خو چه په دے هاؤس کښ سپیکر یوه خبره اوکړی نو هغه فیصله وی او په هغے باندے بیا عمل پکار وی۔ خو د بدقسمتئ خبره دا ده چه څمونږ په یو فیصله باندے یا خو حکومت عمل نه کوی او هغه محکموته که سپیکرهدایات اوکړی نو په هغے باندے عمل نه کیږی۔ دا ډیره د افسوس خبره وی۔ 89-1988 حالات ما ته یاد دی په هغے کښ پیرصابرشاه هم څمونږ سره وو او بی بی وه او نور زاره د هغه وخت ممبران، لالا صاحب وو او مونږه د دے خانے نه د دے ټی وی خلاف احتجاج کړے وو او په هغه وخت کښ د پیپلز پارټئ حکومت وو او بینرے وړے وے او چه کله د ټی وی د [illegible] پیل لاړو او هغه ډائریکټرنے رااوونتلو نو هغه ټولے بینرے د هغه سر لره خلقو راپریخودلے او د هغه سر نے پرے اوویشتو او ډیرے نے کړے ورته پرے۔ نو هغه حالات ورته هم شاید چه یاد وی، د دے اسمبلئ ممبرانو احتجاج کړے وو او هغه بینرے نے خما په سر ویشتے وے، خو د هغے باوجود تراوسه پورے یعنی دا سیرغاړی هم دی ډیر زیات، د دے پښتنو خو ډیر ښه روایات دی او مونږه په

برادرئی او په وروروﻟئی او دوستئی باندے هر کار کول غوارو او په دے باندے چلیږو، خو چه کله هغه د خبرے رنګ بدل شی نو بیا د پښتنو هغه مزاج بل شانتے هم دے، نو بیا مونږ له دا زړه طریقه هم راخی چه بیا خو احتجاج کوؤ او بیا د دغه ډائریکټر سر پرے ولو۔ د هغه د پاره د شرم خبره ده۔ د ټی وی اسټیشن د پاره د هغے د ډائریکټر د پاره او د هغے د مشرانو د پاره، اوس خمونږه د صوبے که هیڅ نه وی سپیکر صاحب! نو دا 13 فیصد آبادی خو خمونږه شته دے کنه؟ حق خو خمونږه شته دے چه هغه تیره فیصد حق خمونږه په مرکز کښی منلے شی نو په دے ټی وی دے مونږ له هغه تیره فیصد حق هم راکړی۔ هغه خو د مونږ ته راکړی کنه۔ نو چه سره د دے اسمبلئی د ټولے کارروائی، هیڅ هغے ته کوریج نه ورکړے کیږی د هغے څه، خاص څه زیات نه زیات وائی چه بس *اپوزیشن ممبران نے بحث میں حصہ لیا۔* او یا وائی چه *آزاد ممبران نے بحث میں حصہ لیا۔* او چه کوم ورکوی نو هغه هم داسے غلط لکه احمد حسن خان چه پیش کړو چه غلط ورکوی رپورټ، نو دا خو د دوی ډیره لویه ذمه واری ده، هغه ذمه واری دوی خرابوی۔ نو جناب سپیکر صاحب! دا واقعی کمیټئی ته حواله خکه کړنی چه هلته په دے باندے دوی رااوغښتے شی او بحث ورسره اوشی او ستاسو دا فیصله ورته هلته مونږه اوښایو چه سپیکر صاحب په دے یو قسمه دا رولنګ ورکړے دے۔ چه سپیکر صاحب هدایات تاسو ته اوکړو او تاسو ته هدایات ملاؤ شول او هدایات نے اوکړل۔ نو دا رولنګ شو۔ اوس په دے رولنګ چه تاسو عمل نه کوئی نو دا ستاسو د پاره جرم دے او خما خیال خو دا دے چه براه راست دا جوډیشل کمیټئی ته اولیږئی، بلکه یو شپږ میاشتے جیل ورته پکار دے چه ورکړنی۔ جناب سپیکر صاحب! شکریه۔

*جناب سپیکر: جناب نجم الدین! جی۔*

*جناب نجم الدین:* جناب سپیکر صاحب! احمد حسن خان چه کوم تحریک استحقاق پیش کړے دے د هغے مکمل حمایت کوم او انشاء الله و تعالیٰ خمونږ دا هم یقین دے چه حکومتی پارټی به هم خمونږ سره په دے کښی ملګرتیا

اوکړی خکه چه دا مسئله یوائے خمونږه نه ده۔ هغه بله ورخ دے اسمبلئی یو مکمل احتجاج کړے دے چه کوم پاکستان ټیلی ویژن نوټ بک پیش کوی په هغے کښ ستاسو د رولنګ او د هغه احتجاج باوجود چه هغے به نورکله یو په یولس نیمے بجے باندے هغه نوټ بک پیش کولواو بیا تاسو دلته کښ هغه خبره اوکړه اوس د شپے د باره بجو نه هم هغه ورستو کوی۔ هغه فیصله تر هغه حده پورے لاړه چه تاسو کومه فیصله کړے وه او دا مو ونیلی وو چه کم از کم په دے باندے د خبره اوشی۔ هغه د باره بجے نه وروستو شوله۔ سر! دا پته خبره نه ده مونږ د دے خانے نه واک آوټ کړے وو۔ ستاسو چیمبر ته درغلی یو او په هغه چیمبر کښ مونږ احتجاجاً چه کیان سنګه تنبتولے شوے دے د هغه په مسئله کښ ستاسو په چیمبر کښ ناست وو او بیا چیف منسټر صاحب او د هغه سره وزیران صاحبان یا د حکومتی پارټئی، اګرچه د حکومتی پارټئی اکثر کسانو، خمونږ سره اے این پی په هغه واک آوټ کښ شامل وه۔ دوی راغلو او خمونږه د مشرانو سره نے خبرے اترے اوکړے او پخپله باندے چیف منسټر صاحب هغوی په دے خبره باندے Agree کړو چه تاسو کوم بائیکاټ کړے دے، دا بانیکاټ ختم کړنی او اسمبلئی ته راشئی۔ لیکن پاکستان ټیلی ویژن هغه په بل شکل کښ پیش کړو، په دے شکل کښ نے کړو چه مونږه لاړو او بیا مو چیف منسټر صاحب ته منت اوکړو چه مونږه بانیکاټ کړے دے خو ته اوس راشه او خمونږ سره خبره اوکړه۔ نو دا بانیکاټ کول خو د اپوزیشن یو حق دے او میډیا په جمهوریت کښ یو اهم آنټم دے۔ که د دے حده پورے خبره اورسی او په دے طریقه باندے اورسی چه هغه یکطرفه د حکومت په کارروائی باندے لګیاوی، لګیاوی، نو هغے ته خو جمهوریت نه شی ونیلے۔ دا ستاسو په دغه کښ زه دا درخواست کوم چه ستاسو په دے خانے باندے هغوی هلته کښ چټئی رالیږلے وه، د هغے هم څه خبره او نه شوله۔ دا دِ تحریک استحقاق کمیټئی ته حواله شی او په هغه کمیټئی کښ دِ هغه کسان رااوغوښتلے شی او د هغوی نه دِ باز پرس اوشی۔ مونږ به دا خبرے ټولے واضح کړو چه دوی دا غلط کار ولے کړے دے؟ ډیره مهربانی سر!

جناب سپیکر: جناب اکرم خان درانی ! جی

جناب اکرم خان درانی: ستاسو شکریه۔ احمد حسن چه کوم استحقاق پیش کړے دے حقیقت دا دے چه ډیره د افسوس خبره ده چه دومره دا الفاظ چه دلته رالیګلی وو او ستاسو نه دوی لکه یو معافی هم غوښتے وه۔ د هغے باوجود لکه بیا چه دلته څه کیږی نو هغه حقیقت دا دے چه ډیر په کم انداز باندے هلته راځی ۔ اوس لکه دا خبرے چه شروع شوے دی چه د هر یو صوبے سره لکه زیاتے شروع شوے دے او اوس خلقو ته احساس ورځی په هر یو شے باندے ۔ لکه دلته همایون خان کیدے شی هغه کارټون پیش کړی د هغه په لاس کښ دے۔ چه دا نن په فرنټیر پوسټ کښ کوم کارټون راغلے دے او هغه لکه پاس په سر باندے نے د پنجاب د څه حیثیت ښودلے دے او ورسره لاندے خمونږه د این ډبلیو ایف پی کوم پوزیشن دے او ورسره لاندے د بلوچستان، نو دا خبرے حقیقت دا دے چه د دے نه رااوځی چه هغه احساس محرومی دومره زیاته شی چه څوک توجه نه شی کولے چه صرف خمونږه د خبرو انداز چه دے هغے ته هم څوک په دے طریقه باندے تیارنه وی چه هغه په هغه انداز باندے پیش کړلے شی چه کوم خمونږه ډیمانډ وی۔ نو څما هم دا تجویز دے چه دا دِ استحقاق کمیټی ته حواله شی او باقاعده په دے باندے ستاسو، څکه چه خمونږه تاسو مشر نیی او ستاسو دلته د ټولو هغه مخافظ او مشر نے، که ستاسو په وجه باندے او دا خمونږه ټول هاؤس، دلته چه کومه کارروانی اوشی نو هغے کښ هیڅ حصه، تاسو ګوری دوه ورځے هم خبرنامه کښ نه راځی۔ نو زه د احمد حسن خان د تحریک استحقاق حمایت کوم او ورسره ورسره دا یو زبردست غوندے شے راروان دے د صوبے، چه دا ورکوتے صوبے چه دی، د دوی حقوق غضب کیږی۔ نو دا په یو انداز باندے داسے راشی چه بیا به د تباهی انداز وی۔

جناب سپیکر: منظور باچه صاحب۔

سید منظور حسین: محترم سپیکر صاحب! شکریه۔ احمد حسن خان چه پریویلج موشن پیش کړے دے، نو تقریباً دے سره عمومی اتفاق دے۔ پاکستان مسلم

لی ) د طرف نه غوک پانسیدل۔ لهذا زه به دا ذمه داری قبوله کړم او درخواست به اوکړم چه بے شک دا تاسو دغه کړے پریویلج کمیټی ته، اونے لیګئی۔ البته تصحیح به اوکړم د نجم الدین، چه دوی د جلوس حواله ورکړه چه حکومتی پارټی، د عوامی نیشنل پارټی خلق مونږ سره په جلوس کښ ملګری شوی وو۔ نو ځما په خیال دوی هغوی سره ملګری شوی وو۔

<u>جناب ہمایون سیف اللہ خان</u>: زه خپله خبره جناب، بس جی تاسو ته ایډمټ کوم، طبیعت مے ډیر نن خراب دے سر------

<u>جناب سپیکر</u>: جی بشیر خان۔

<u>وزیر قانون</u>: جناب سپیکر صاحب! څنګه چه احمد حسن خان اوفرمائیل چه نیوز کښ دا راغلی دی، ځما خو رشتیا خبره ده چه نه دی اوریدلی خو دا حقیقت دے، زه دا *Commitment* کوم په فلور آف دی هاؤس چه دا د اپوزیشن او د جمهوریت یوه قاعده ده چه چرته اپوزیشن یا څوک واک آوټ اوکړی نو بیا حکومتی ډله خی او هغوی ته خواست کوی چه واپس هغه خپل ځائے ته راشی۔ په دے لړ کښ چه مونږه واک آوټ اوکړو، خمونږه د پارټی اے این پی ملګرو، او د اپوزیشن ملګرو، نو بیا چیف منسټر صاحب ستاسو چیمبر ته راغلو۔ اپوزیشن پارټی هم ناسته وه او دا اے این پی والا هم ناست وو۔ نو ستاسو چیمبر کښ وزیر اعلے صاحب راغلو خپلو ملګرو سره او دوی سره نے خبرے اوکړے او دوی *Satisfied* شول نو په دے دوی واپس هاؤس ته راغلل۔ که داسے شوے وی نو د دوی خبره چه ده دا بالکل ټهیک ده۔ بل دا چه دا خمونږه ورور اوونیل چه اپوزیشن سره واک آوټ مونږه واک کړے وو ګورنرهاؤس ته، نو زه دا وایم چه نه دا اپوزیشن اے این پی سره واک اوټ کړے وو، دا صرف د درستګی آف دی ریکارډ د پاره دا خبره کوم۔ احمد حسن صاحب دا اوونیل چه اپوزیشن سره اے این پی هم واک اوټ کړے دے، مونږه وایو چه نه اے این پی سره دے وروړنو، مونږه سره ملګرتیا کړے ده۔ صرف درستی ریکارډ د پاره وایم۔ بل به زه دا هم اووایم چه ځما------

جناب سپیکر: دا یو خبره ده، په دے څه فرق نه پریوځی۔
وزیر قانون و پارلیمانی امور: بل دا عرض کوم چه باره بجے تاسو څنگه چه مخکښ خمونږه اعتراض وو چه باره بجے خمونږه نیوز هغوی Avoid کوی، چه زه خبره اوکړم بیا به تاسو خبره اوکړئی۔
جناب نجم الدین: نه جی هغه جواب به درکړو کنه۔
جناب سپیکر: لږ صبر اوکړئی۔
جناب نجم الدین: پوائنټ آف آرډر دے سر۔
وزیر قانون و پارلیمانی امور: دوی دا اوونیل، تاسو ته یاد به وی چه څنگه دلته خبره اوشوه نو تاسو لیټر لیکلے وو، د لیټر جواب د هغوی نه راغلو او هغوی وئیل چه نه مونږه به دا کوؤ۔ اوس هم زه دا وایم چه هم هغه ټائم باره بجے اوس هم خمونږه کاروائی ته ورکوی چه هغه ډیر داسے وخت دے چه هغه وخت کښ خلق اوده وی او دا خبرے څوک هم نه اوری۔ زه دا عرض کوم چه داسے خبره شوی وی او دا خمونږه مغزز ممبران چه دی دا کله هم به داسے نه وانی چه یره، زه نه وایم چه دوی به غلط وانی که داسے شوی وی، بالکل دا کمیټی ته د حواله شی۔ په دے *Discussion* اوکړو خو دا ټی وی والا چه دی، پکار ده چه خمونږه د صوبے حق، حق پکار دے *13%* آبادی ده، نو *13%* حصه مونږ له هم دے نیشنل نیوز کښ پکار ده چه مونږ ته د ملاؤ شی۔ دا د رااوغواړی او دوی سره دلته خبرے اوکړے شی او دا چه هغوی کړی وی نو بالکل د هغوی پریویلج حق دے چه هغے باندے کومه سزا خمونږه ستاسو رولز کښ شته، په هغے باندے دا پکار ده چه عمل اوشی۔
جناب یوسف ایوب (وزیر مواصلات، تعمیرات)، سپیکر صاحب! ------
جناب سپیکر: ایک منٹ وہ پوائنٹ آف آرڈر پر ہیں۔
جناب نجم الدین: دا منسټر صاحب چه کوم ذکر اوکړو نو دا ټهیک خبره ده چه کوم گورنر هاؤس پورے دوی د حکومت خلاف جلوس ویستلے وو نو مونږه هم ورسره ملگرتیا کړے ده خو دلته چه مونږه د دے اسمبلی نه کوم بائیکاټ کړے وو، واک آوټ کړے مو وو، نو خمونږه سره اے این پی

ملګر تیا کړے دہ۔

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u>: پوائنټ آف آرډر پلیز۔ دا بیا درستګی آف ریکارډ د پاره وایم چه مونږه د حکومت خلاف نه وو کړے، مونږه صرف دا واک کړے وو چه مونږه هغه ګورنر صاحب ته *Remined* کړو چه په دے زرکار اوشی، د حکومت خلاف مونږه واک آوټ نه وو کړے او دا چه دا واک آوټ مو کړے وو دا خمونږه یو فیصله وه چه مونږه به یو خانے واک کوؤ۔ دا واک آوټ به کوؤ هاؤس ته دا هم نه وه چه دا مونږه د دوی په وجه، نو مونږه د دوی په وجه نه وو کړے۔

<u>جناب پیرمحمد خان</u>: جناب سپیکر صاحب! داسے خبره نه ده مونږه د دوی سره سبا بیا هم شریک یو چه کله واک آوټ غواړی، نو مونږه به ورسره شریک یو او واک اوټ به کوؤ۔

<u>جناب همایوں سیف اللّٰه خان</u>: بشیر صاحب واک آوټ پریږده۔ دے بلے قصے باندے خبره اوکړه۔ د سپیکر صاحب سره مخکښ پرته ده۔ سپیکر صاحب څه به حق اوغواړو جی احمد حسن صاحب ژاړی، مونږ له به څوک څه حق راکړی سر۔ دا اوګورئی هغه چوکیداری په قسمت کښ شته دے، دوی د پاره بل شے نشته۔ هغه چوکیداری مو ده۔

<u>وزیرقانون و پارلیمانی امور</u>: زه په دے حیران یم چه همایون خان ته ډیر زیات د صوبائی خود مختیارئی سوچ راغلو، چه دا پنځوس کاله تیر شو نو دوی خو ټول خاندان په حکومتونو کښ پاتے شوے دے۔

<u>جناب همایون سیف اللّٰه خان</u>: خبره واوره خانه، خبره واوره خانه، بهنی مونږه خپله پارټی پریخوده خو مجبوره شولو زور آوره (شور)

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u>: د دوی ماماګان، د دوی خپل ترور خوئے، پخپله هر یو حکومت کښ وو، نو هغه وخت کښ ئے ولے نه اوچت کړے نه وو دا آواز؟ دوی مونږ ته د صوبائی خود مختیاری خبره، مونږ ته وائی په آرام کینه خپل خان سره خبره کوه او ستا حکومتونه شوی دی او تا په حکومت کښ څه کړی دی؟

جناب سپیکر: بشیر خان! پلیز، پلیز۔
جناب ہمایون سیف اللہ خان: هر څه مو کړې دي۔
وزیر قانون و پارلیمانی امور: نو تاسو پنځوس کاله په حکومت کښې پاتے شوے یئی۔ دا څه طریقه ده د خبرو کولو هسې، شور کوې۔
جناب ہمایون سیف اللہ خان: حقونه به نه غواړو، صرف ته به نے غواړے۔
جناب سپیکر: بشیر خان! پلیز، پلیز، خیر دے خیر دے۔
جناب ہمایون سیف اللہ خان: یره جناب دافسوس خبره دا ده ------
جناب سپیکر: همایون خان! دوی خبره کوی۔
جناب ہمایون سیف اللہ خان: نه، نه سر! زه یو خبره کوم، زه *Simple* خبره کوم۔
جناب باز محمد خان: پوائنټ آف آرډر۔ محترم سپیکرصاحب ! زه په پوائنټ آف آرډر باندے ولاړ یم -----
جناب ہمایون سیف اللہ خان: سر یو منټ خبره کوم، یو منټ خبره کوم، اودریږه۔ سر! د بشیر بلور صاحب بیان راغلو کہ ہم ایریگیشن کے کینال کو آباد کریں گے اور ذرا اس سے ہٹ کر بات نہیں ہوسکتی تھی ما جواب کښې ورکړه لو چه زور آوره ------
جناب سپیکر: په چیئر د کینه جی۔
جناب ہمایون سیف اللہ خان: ما، اخبار کښې راغلی وو، ما جواب ورکړو، تا ستا دا بیان راغلے وو، ما جواب ورکړلو چه بهنی کینال ----
جناب باز محمد خان: محترم سپیکر صاحب! زه په پوائنټ آف آرډر باندے ولاړ یم۔
جناب سپیکر: پوائنټ آف آرډر جی۔
جناب ہمایون سیف اللہ خان: جناب بغیر -----
جناب سپیکر: همایون خان بس اوشوه، خبره اوشوه۔
جناب ہمایون سیف اللہ خان: نو دا خبره مے اوکړله او په دوی باندے بده

اولگیده- زور آوره مونږه خپل حق غواړو-

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u> : چه دوی خبره اوکړی نو جواب اوغواړه کنه- زه دوی ته دا وایم چه دا *Water Accord* چا کړے دے؟ دا مونږه کړے دے؟

<u>جناب ہمایون سیف اللہ خان</u>: چا کړے دے؟ هم تا کړے دے-

<u>وزیرقانون و پارلیمانی امور</u> : او په دے فخر کوؤ چه په دے *Water Accord* باندے خمونږه دستخطونه شته او مونږه اوبو دومره اغستے دی د دے صوبے د پاره- دا احمد حسن خان ناست دے د دوی حکومت وو او دوی ته دا *Water Accord* به نے *Reject* کړے وو کنه-

<u>جناب ہمایون سیف اللہ خان</u>: ستا ملگری *Sign* کړے دے-

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u> : خو مونږه فخر کوؤ چه دے *Water Accord* باندے مونږه ډیر زیات اوبو اغستے دی، دا د پاکستان په تاریخ کښں چا نه دے کړے- دے خبر هم ترے نه دے- دے دِ راشی کینی، چه زه ورته اوښایم چه دومره اوبه دی چه مونږه سره ذرائع نشته چه هغه اوبه پکښں استعمال کړو-

<u>جناب سپیکر</u>: لږ خیر دے په آرام، په آرام-

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u>: دے مونږ د پاره ډیر چمپئین جوړیږی، دا چه صوبانی خود مختیاری ده، پرون ته راغلے او نن ته مونږ ته چمپئین جوړیږے- مونږه ته به لاره دے ښائی؟

<u>جناب سپیکر</u>: خیر دے خیر دے- *دیر آمد، درست آید*-

<u>وزیر قانون و پارلیمانی امور</u> : په صوبانی خود مختیارنی ټول عمر، خمونږه ژوند پکښں تباه شو دے جدوجهد کښں، او دے به مونږ ته ښائی چه صوبائی خود مختیاری غه ته وائی- کله راپاسی، یوه خبره او کاله پاسی، بله خبره-

<u>جناب سپیکر</u>: خیر دے، خیر دے-

**<u>*M*inister for Law and Parliamentry affairs</u>: No, wher he was when he was fifteen years in Government?**

<u>جناب سپیکر</u>: خیر دے، ٹھیک شوه- بس همایون خان تشریف کیدنی، بل چا له هم چانس ورکوؤ کنه- (شور)

وزیر قانون و پارلیمانی امور: په ده خکه بده لګی چه دے پخپله همیشه، دوی یونټ جوړکړے وو، دوی یونټ کښې پارټنرز وو او دوی پکښې حکومتونه کړی دی، هغه وخت کښې دوی ته پته نه وه۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان: جناب تا ته څه تکلیف دے؟ نه نه -----

وزیر قانون و پارلیمانی امور: دوی ماته اوس ښائی چه صوبائی خود مختیاری څه ته وائی۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان: جناب سپیکر دوی ته ولے تکلیف دے۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور: دوی خپل تعریف اوکړو چه دوی څه کړی دی۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان: عجیبه خبره ده۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور: دوی دِ خپل خان په دے پوهه کړی۔

جناب ہمایون سیف اللہ خان: بهنی سپیکر صاحب! دوی ته ولے تکلیف دے۔ زه خو دا وایم، حق خبره کوم۔

جناب سپیکر: خبره واورئی جی۔ خیر دے بس دا هم ډیره ښه خبره ده که وروستو هم تاسو منئی نو هغه هم ډیره ښه ده که مخکښې منسته نه او اوس نے منئی نو هم ډیره ښه خبره ده۔ بس دا معمولی خبره ده په دے وخت مه خبرابونی نور۔ مهربانی اوکړئی، مهربانی۔ پوائنټ آف آرډر څه دے؟

جناب باز محمد خان: ما جناب دا وے چه همایون خان -----

جناب سپیکر: پلیز *Don't*، نورے خبرے په دے سلسله کښې مه کوئی چه نور بیا نه جوړیږی۔

جناب باز محمد خان: نه جی داسے خبره نه کوم، زه وایم چه همایون خان که اوس هم د صوبائی خود مختاری دغه کوی نو دا ډیره ښه خبره ده، خدائے پاک دِ ده ته توفیق ورکړی چه دے نور هم دومره قوم پرست شی او نیشنلسټ شی۔ دا خو ډیره ښه خبره ده او خدائے پاک دِ د دے نه وروستو نه کړی دے۔

جناب سپیکر: خما خپل دا خیال دے -----

جناب ہمایون سیف اللہ خان: سپیکر صاحب! زه جواب خو به ورکوم۔

جناب سپیکر: یو منټ تاسو کینئی تشریف کیدنی -

جناب همایون سیف اللہ خان: دے صوبے د پاره سر همیشه که ناتی ------

جناب سپیکر: همایون خان یو خبره ------

جناب همایون سیف الله خان: که مالی وی نو د خپل جیب نه به وی مونږه خدمت کړے دے او حکومت کښې مو همیشه کړے دے *No body can say that we have compromised on our rights, nobody can say that*

وزیر قانون: سپیکر صاحب! زه په پوائنټ آف آرډر باندے دا خبره کوم چه دے حکومتونو کښې د دوی ټول خاندان همیشه، نن پنځوس کاله د دے صوبانی خود مختیاری د پاره ده څه کړی دی؟ نو مونږ ته دِ اوښائی۔

جناب سپیکر: اوس چه هم کوی نو ډیر ښه کوی خیر دے ۔ زه خیر، دے خیر دے۔

جناب یوسف ایوب خان (وزیر مواصلات و تعمیرات): *Privilege motion* کی بات ہو رہی تھی ہم ------

جناب باز محمد خان، اهم خبره ده۔ یو منټ جناب ------

وزیر مواصلات و تعمیرات: میں تیسری دفعہ اٹھا ہوں بات ہو رہی تھی پریویلج موشن کی تو اس کے متعلق میں کہونگا لیکن بیچ میں پانی کا سلسلہ نکل آیا، کچھ سمجھ نہیں آ رہی ہے ۔ سپیکر صاحب! جیسے احمد حسن صاحب نے فرمایا ہے کہ اس دن نو بجے کے خبرنامہ میں یہ خبر آئی تھی کہ بیگم نسیم ولی خان صاحبہ خود چیف منسٹر کے چیمبر میں آئیں اور بائیکاٹ ختم کیا کیونکہ میں نے خبر نامہ نہیں سنا تو پریویلج موشن ایڈمٹ کرنے سے پہلے اس چیز کو *Confirm* ضرور کیا جائے اگر اس قسم کی بات ہوئی ہے تو کیونکہ میں نے خبرنامہ نہیں دیکھا ہے اور غالباً بشیر خان نے بھی نہیں دیکھا ہے اور اگر اس قسم کی بات ہے تو ہمیں کسی قسم کا کوئی اعتراض نہیں ہے جی ۔

جناب سپیکر: ایک چیز میں آپ کو بتا دوں ۔

وزیر مواصلات و تعمیرات: میں ایک عرض کرتا ہوں، ہم تو بڑے آنرایبل طریقے سے گئے ہیں۔ بیگم ولی خان صاحبہ وہاں آپ کے چیمبر میں تھیں، چیف منسٹر صاحب گئے ہیں

ہمارے پاکستان مسلم لیگ کا President گیا ہے، ہم منسٹرز تھے فتح محمد خان صاحب تھے اور ہم ان کا شکریہ ادا کرتے ہیں کہ یہ ایک اچھے طریقے سے، عزت دار طریقے سے واپس ہاؤس میں آئے ہیں۔ خبرنامے میں اگر اس قسم کی چیز آئی ہے تو بالکل Privileges Committee میں جانا چاہیے لیکن میرا-----

وزیر قانون و پارلیمانی امور: یہ پتہ چلے گا کہ آیا یہ درست ہے------

وزیر مواصلات و تعمیرات: پہلے ریکارڈنگ دیکھ لیں، اگر یہ Confirm ہو، اگر انہوں نے کہا کہ جی یہ چیز ہوئی ہے تو پھر It should go to the Privileges Committee اگر-----

جناب سپیکر: میں ایک عرض کرتا ہوں، میں آپ کا مطلب سمجھ گیا ہوں۔ میں آپ کو ایک پوائنٹ بالکل صاف الفاظ میں کہنا چاہتا ہوں I am sorry to say میرا ایک ممبر جب ہاؤس میں کھڑا ہو جائے اور ایک بات کرے تو میں کہتا ہوں کہ وہ ممبر سچ، سچ، سچ ضرب سچ ضرب سچ جمع سچ جمع سچ بول رہا ہے (تالیاں) I must believe my member, I am not going after that کیونکہ مجھے اپنے ممبران صاحبان کے Moral کا پتہ ہے اور مجھے یہ بھی پتہ ہے کہ وہ کبھی بھی ہاؤس میں اس طرح غلط بیانی سے کام نہیں لیں گے تو اگر آپ کا پوائنٹ یہ ہے جس طرح لاءمنسٹر صاحب نے بھی کہا، آپ میرے خیال میں میرے ساتھ اتفاق کرینگے کہ ہمارے ممبران صاحبان خواہ وہ گورنمنٹ سے ہیں خواہ اپوزیشن سے ہیں یا آزاد ہیں یا جس پارٹی سے بھی ہیں لیکن میرے ممبران صاحبان انشاء اللہ وہ سب پختون ہیں اور وہ اس طرح غلط بیانی کسی صورت میں بھی نہیں کرینگے تو میں Straight away I put this question.......

وزیر قانون و پارلیمانی امور: جناب سپیکر صاحب!------

جناب احمد حسن خان: یو منټ بشیر خان زه ستا مسئله حل کوم یو منټ ستا مسئله حل کوم۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور: جناب سپیکر صاحب! یوسف خان صاحب کا مقصد یہ نہیں ہے کہ خدا نخواستہ وہ غلط کہہ رہے ہیں۔ یہ میں آپ کو بتادوں سر کہ جب پریویلج کمیٹی میں یہ کیس جائے گا تو اس وقت یہ Reel دیکھی جائے گی کہ انہوں نے کیا کہا ہے

اور کیا نہیں کہا ہے ؟ اگر انہوں نے نہیں کہا ہے تو پھر کوئی بات بھی نہیں ہوگی اور کوئی پھر Commitment یا ان پر کوئی Fine وغیرہ کچھ بھی نہیں ہو سکے گا اس لئے وہ کمیٹی میں جائے تو وہاں Discuss ہو ان کا یہ مطلب نہیں ہے کہ خدا نخواستہ ممبر صاحب نے غلط بیانی کی ہے۔

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر ! اس میں کوئی شک نہیں کہ میں ایک انتہائی غریب آدمی ہوں لیکن میں یہ Claim کرتا ہوں کہ میں آج ایک ذمہ دار شخصیت کی حیثیت سے یہاں بیٹھا ہوں اور میں نے خود اپنے ہاتھ پاؤں باندھ لئے ہیں۔ قابل افسوس بات یہ ہے کہ منسٹرز پہلے دیکھتے نہیں، ریکارڈ کو نہیں دیکھتے، کسی سے پوچھتے نہیں، اب بات کرتے ہیں۔ کل رات یہ کہاں تھے؟ کل دن کو کہاں تھے؟ آج صبح کہاں تھے کہ اس پریویلج موشن کو تھوڑا پڑھ لیتے۔ میں نے خود اپنے ہاتھ پاؤں باندھ لیے ہیں۔ میں نے حقیقت کو حقیقت ثابت کرنے کے لئے یہ بات کی ہے اور پی ٹی وی انتظامیہ کو ان دونوں راتوں کے خبرناموں کے متعلق حصوں کے ریکارڈ پیش کرنے کے احکام جاری کئے جائیں۔ یہ کیوں اس طرح کرنے نہیں دیتے اس لئے کہ میں سچ بول رہا ہوں اور انشاء اللہ یہ سچ ہو کر ثابت ہو گا۔

*Mr. Speaker:* Is it the desire of the House that the Privilege motion moved by Honourable Member Ahmad Hassan Khan, may be referred to the Privileges Committee?

**The motion was carried.**

Mr Speaker : 'Ayes' have it. .The matter is referred to the Privileges Committee and the PTV is directed that they should produce the record of the two nights mentioned by him in the Privilege motion. Thank you very much.

جناب احمد حسن خان، جناب سپیکر! ستاسو هم شکریه او د حکومت د آراکینو هم شکریه، خصوصاً د منظور باچه صاحب۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور، جناب سپیکر! صرف دا لږه خبره کول غواړم که ستاسو اجازت وی چه دا احمد حسن خان سره مونږه هم دا درے کاله

اپوزیشن کښې ناست وو خو خما خیال دے څومره Co-operation چه دا حکومت کوی لګیا دے د پاکستان په تاریخ کښې داسې چرته بل حکومت Co-operation اپوزیشن سره نه دے کړے، دا On record راوستل غواړم۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر!------

جناب سپیکر: د دے د پاره هغه ستائینه هم کړے ده بشیرخان بار بار دوی ستائنه هم کړے ده چه کله ئے وخت راغلے دے نو دوی ستائنه کړے ده۔

جناب احمد حسن خان: دا ما بار بار وئیلے دی او چه کله ئے مونږه وایو نو، چه کله مونږه دا خبره کوؤ نو بعضے دوستان په هغے خفه کیږی۔ د دے نه پس به ئے نه وایو۔

جناب سپیکر: نه نه بار بار ستائنه شوے ده۔

جناب احمد حسن خان: هم دا ستائنے والا خبره مونږه همیشه کړے ده او مونږه، مونږه که جناب سپیکر ----

وزیر قانون و پارلیمانی امور: دا خو ما جناب سپیکر صاحب! تا اووے، دا حکومت دغه وائی او سپیکرسره سره که د حکومت هم کوے، نو دا ډیره ښه خبره وی۔

جناب احمد حسن خان: خما جناب سپیکر! د تیر سیشن د آخرنئی ورځ، جناب سپیکر د آخرنئی ورځے تاسو اوګورئی ریکارډ، ما دا خبره کړے ده۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور: ډیره ډیره مهربانی۔

جناب احمد حسن خان: او دا عرض کوم جناب سپیکر، که ټول حکومت که د حکومت یو حصه کله په کوم پالیسئی کښې د صوبے په مفادو کښې، په حقیقت پسندئی کښې، کوم داځه عمل ورسره، دوی به مخکښے وی او مونږه به ورپسے یو خکه چه دوی ډیر دی او مونږه لږ یو۔ مونږه به ورپسے یو خو حقیقت پسندانه چه څه عمل وی مونږه حصه یو انشاء اللہ تعالیٰ او چه غیر حقیقت پسندانه وی نو مونږه به دغسے احتجاج کوؤ۔

جناب سپیکر: بس دا Discussion دغه کوؤ۔

جناب نجم الدین: پوائنټ آف آرډر۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور، مونږه همیشه حقیقت پسندانه کار کړے دے او همیشه د دوی سپورټ مونږه کړے دے۔

جناب نجم الدین: سر! پوائنټ آف آرډر۔ یو پوائنټ مے دے۔ سر! خما درخواست دا دے چه پرون نه هغه بل ورخ د پاکستان مسلم لیگ یو کنونشن شوے دے په هغه کنونشن کښې هغوی دا اعلان کړے دے چه په 7 فروری بانډے به بلدیاتی انتخابات وی، نو خما عرض دا دے تاسو په دے وخت کښې د اسمبلے په نوټس کښې هم راولم۔ دلته منسټر صاحب هم ناست دے او ممبران هم ناست یو۔ اول خو روژه ده، د پنجاب او د دے خانے کښې د روژے هم فرق دے چه دلته د پښتنو څه پوزیشن دے او هلته څه پوزیشن دے۔ بیا د اختر په څلورمه ورخ بانډے یکدم هلته انتخابات راروان دی سر، د بلدیاتی انتخاباتو اعلان ئے کړے دے۔ بیا د هغے نه وروستو خمونږ په مالاکنډ او هزاره ډویژن کښې د واؤرے د وجے نه د انتخاباتو هیڅ قسم څه گنجائش نشته۔ خما دا عرض دے چه کم از کم ----

ملک جهانزیب خان: پوائنټ آف آرډر!

جناب نجم الدین: په پوائنټ آف آرډر بانډے زه ولاړ یم، تاسو لږ کینئی، بیا به خپله خبره کوئی ۔ خما عرض دا دے سر چه دا مسئله مرکزی نه ده، بلدیاتی ادارے دا د صوبے خود مختیاری ده، په دے کښې د وزیراعظم د اعلان کولو یا د بل چا د اعلان کولو څه خبره نشته۔ خما ستاسو په وساطت سره دا درخواست دے چه خمونږ د صوبے نوعیت، مونږ خو ټول دلته د خیره سره روژے نیسو، لیکن پنجاب کښې هغه وائی هغه زیات اکثر هلته چه کوم دے نو هغوی مسافر وی ---- (قہقہے)---- نو خما، مسافر وی که نه؟۔ هلته جناب د مسافرئی خبره ده او ټکے دا دے۔ بل خمونږ د خوشحالئی دغه دوه اخترے راخی، هغه شپږ اووه ورځے مونږ په هغے کښې هم چکرے مکرے لګوو۔ دا به مونږ په انتخاباتو کښې، تیر انتخابات هم په روژه کښې راغلی وو۔ اختر هم رابانډے اُور شوے وو۔ بیا به خمونږ په علاقو کښې، قسم په خدائے چه هلته خو به نه څوک اتنخابات کولے شی، تر دے خانے پورے

واورے وی نو د دے دا صوبه دِ، دا حکومت دِ خپل اختیارات خپل لاس کښ واخلی او چرته په مارچ اپریل کښ دِ دا انتخابات اوکړی- خمونږ وزیراعظم د خپله مرکزی خبره کوی خو خمونږ د صوبے خپله خود مختاری ده او دا په صوبائی خود مختارنی کښ مکمل مداخلت دے سر- نو دا خمونږ درخواست دے منسټر صاحب دے د دے کلئیرکټ جواب راکړی-

جناب سپیکر: منظور باچه صاحب-

سید منظور شاه باچه: محترم سپیکر صاحب! دا نجم الدین چه کومه خبره اوکړه - دے سره خمونږه اتفاق دے- محترم میاں نوازشریف صاحب دا اعلان د ټول پاکستان د پاره کړے دے خو په دے باندے دلته مونږه صوبائی سطح باندے، دا صوبائی سبجیکټ دے، نو خمونږ خپل دا خیال وو چه مونږ به د خپلو مشرانو توجه دلته راګرځوو او پخپله سطح به مونږه یوه فیصله کوو- بیا به ئے هغوی ته Convey کوو نو دوی سره اتفاق دے-

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر صاحب! پوائنټ آف آرډر!

جناب سپیکر: مخکښ هغوی پاسیدلی دی، یو منټ- یوسف صاحب! آپ ایسا کریں کہ جب یہ سب بات کرلیں تو پھر آخر میں آپ جواب دیں-

ملک جهانزیب: شکریه سپیکر صاحب! ما خو صرف دومره وے چه څنګه نجم الدین اوے چه روژے دی او په هغے کښ مونږه دغه نه شو کولے- چه مونږه صوبائی الیکشن په روژو کښ او په یخ کښ کولے شو، نو بلدیات هم کولے شو، داسے څه خاص خبره نه ده-

جناب احمد حسن خان: د هغے نه، نه دے خبر- په هغه روژه کښ چه خلقو څومره دروغ وئیلی وو، بیا د ریل هغه ایکسیډنټ، او هغه زلزلے او هغه هلے ګلے، جناب سپیکر تاسو ته معلوم دی-

جناب سپیکر: جناب عبدالسبحان خان -

جناب عبدالسبحان خان: قابل احترم سپیکر صاحب! ډیره شکریه- خما معزز ورور چه کومه خبره د وزیر اعظم صاحب متعلق اوکړه- د اللّٰه تعالیٰ فضل دے او لکه دوی د روژو خبره اوکړه چه پښتانه روژے نیسی- زه ډیر په

فخر سره باندے وایم چه دا د پاکستان په تاریخ کښ ورومبنے وزیراعظم دے چه د صوم و صلوة پابند دے او په مسلم لیګ کښ داسے کلچر نشته چه هغے کښ روژے نه شي نیوے۔ دا ټهیک ده او د دے نه انکار څوک نشي کولے چه په تیر وخت چه کله د پیر صابر شاه خلاف د عدم اعتماد د پاره دلته نه ممبران اغواء شوے وو۔ هغه خبرے زه چونکه نه دهراوهل غوارم چه واپډا هاؤس کښ یا کراچۍ کښ څه کیدل؟ چه د هغه ځائے د هغے متعلق بیګم نصرت بهټو څه فرمانیلی وو، هغه د اخبار صفحے په هغے باندے محفوظے دی او که ډیر بیا ضرورت راغے نو مونږ به نے پیش کړو۔ خما خبره دا ده چه یو مسلمان له بل مسلمان ته د شک په نظر کتل نه دی پکار۔ تر څو پورے چه د وزیراعظم خبره ده، هغوی چیف ایګزیکټیو دے د دے وطن او هغوی اعلان کولے شي۔ تر څو پورے چه سر د روژے د میاشت خبره ده، په روژه کښ غزواګانے شوے دی۔ روژه کښ جهادونه شوے دی او دا چه نن مونږ دلته په اسمبلو کښ ناست یو، دا هم په روژه کښ دا الیکشن شوے دے۔ هاں که څوک د راه فرار لاره اختیاره وی چه یره په هغوی د قوم اعتماد نشته دے، نو هغوی که په داسے طریقه چه یره صوبے اوکړی نو اسلام کښ نظر ثانی هغه شته دے چه یره یو خبره دِ Revised شي خو د هغے دا طریقه نه ده چه په کومه طریقه باندے خما دا معزز ورور وانی۔ مونږه دا ثابتوؤ، دوی وانی مینډیټ، دا په Independent ، غیر سیاسی بنیاد باندے دے خو په دے کښ هم خمونږه حکومت دا ثابتنی چه پته نے اولګی ، دا ګز او دا میدان، د الیکشن نه دِ څوک تختی نه۔ الیکشن به اوشی، پته به نے اولګی چه مسلم لیګ ته او د هغے اتحادی پارټو ته خلق ووټ ورکوی او که د غے خلقو ته ووټ ورکوی۔

جناب نجم الدین : پرسنل ایکسپلینیشن سر!

میاں مظفر شاه : پوائنټ آف آرډر سر!

جناب سپیکر: یو منټ جی، یو منټ۔

جناب نجم الدین: سر! خما پرسنل ایکپلینیشن دے۔

جناب سپیکر: یو منټ، یو مهربانی اوکړئی- داسے بنه ماحول راوان وی، تاسو بیا یو بل ته په کښں ریفرینسز شروع کړنی او هغه ماحول خراب کړنی- ګورنی یو منټ جی، دا بعض بعض څیزونه داسے دی چه هر سړی ته حق دے چه خپل Point of view explain کړی- تاسو د هغے نه خوا مخواه، هغه سیاست ته نے مه Adhere کونی- بله دا خبره ده که پرائم منسټر یوه خبره اوکړی نو دا ګورنی تاسو یو شے نوټ کړی دے، د څه وخت نه دا راروان دے چه د کیبنټ میټنګ کیږی نو د هر یو صوبے چیف منسټر په کښں ناست وی، د پرائم منسټر سره چه د فیډرل ګورنمنټ میټنګ کیږی نو داسے چه څه خبره وی هغه د دے ممبرانو د ټولو حق دے چه هغوی خپل Point of view په اسمبلئی کښں راولی او بیا د چیف منسټر او منسټرانو خپل دلته Decision وی او بیا هغوی هلته خی، نو دا ضروری نه ده چه یو خبره اوشوه نو هغه به خوا مخواه هم هغه شانتے به کیږی- نو صرف لږ دومره اوکړنی چه یو بل سره لږه ګزاره کونی او دا ذاتی دغه په کښں مه راولئی چه لږ بنه طریقے سره مونږ روان یو- ډیره مهربانی-

جناب نجم الدین: په پرسنل ایکسپلینیشن باندے ولاړ یم-

جناب سپیکر: بیا Personal explanation دے نه بعد څه ورکونی- حو ما ورکړو کنه؟

جناب نجم الدین: دوی خبره غلط طرف ته اوکړه-

جناب سپیکر: ما ورکړه کنه (قہقہ)

جناب نجم الدین: خما عرض دا دے چه ما خو د پرائم منسټر متعلق څه خبره نه ده کړے- هغوی د دے پاکستان وزیر اعظم دے- ما صرف خپل مشکلات بیان کړے دی او دوی جی هغه خبرے نه داسے الټا، نو په دے اسمبلئی کښں خدائے خبر دے خان لاله خو خما مشر دے، د دے متعلق حو زه هیڅ نه وایم خو که بل ممبر راپاسی جی نو دوی، خدائے خبر دے چه په څه چل نه پوهیږو- مونږ حو وایو چه پرائم منسټر خبره کړے ده- دا خمونږ د صوبے مسئله ده، خمونږ په علاقه کښں د واوړو مسئله ده، د روژے مسئله ده-

مونږ، پیر صاحب دلته ناست دے مونږ وایو چه تاسو کیننی مونږ ته یو حل
رااوباسئی که یوه میاشت وروستو شی، نو څه بده خبره خو نه ده۔

جناب سپیکر: میاں صاحب۔

میاں مظفر شاه: زه جی په پوائنټ آف آرډر باندے هم یم او ستاسو رولنګ هم
په کښې غوارم ۔ دا ایجنډا چه کومه ده، یو دے تحریک استحقاق، هغه اوشو ۔
تحریک التواء او توجه دلاؤ نوټس۔ دا اوس Discussion چه دے دا په څه
باندے دے؟ او کوم، او د څه لاندے دے جی؟

جناب سپیکر: دا هسے تاسو ته عرض اوکړم چه تر څو پورے که ستاسو هغه
شے ته ریفرنس وی چه یره کال اټنشن او التواء، هغے ته هم ریفرنس وی۔
هغه تاسو جوړے په فرسټ سیشن کښې نه ونی، مونږ د هاؤس نه
Permission اغستے وو چه چونکه د Islamic Ideology Council
discussion پاتے دے، او هغه هم دے مارے دغه کیږی نو که تاسو غوارئی نو
صرف یو ـ Privilege motions and leave applications به After
Questions hour مونږ اوکړو او باقی به Stand over کړو To the next
day، نو هغه داسے فیصله شوے وه اوس تر څو پورے چه د دے تاسو تپوس
کونی جی هم دغسے په پوائنټ آف آرډر باندے راپاسئی او I am supposed
to listen to the point of order that is another thing چه تاسو به
پوائنټ آف آرډر کښې څه وائیی That is another thing خو بیا به هم وائنه
I can not stop you people. You have got the right to ته څه پریږدم
speak on a point of order that is another thing , whether I say that
it is over ruled or it is not. Whether it is relevant or it is
irrelevant that is another thing خو The question is as simple as
that , that every member has got the right to stand upon a point of
order دا خو بیا ستاسو خپل دغه دے، پکار دا دے چه تاسو داسے پوائنټ آف
آرډر کونی Which should be revelant خو I must listen to it زه
څنګه اوس تاسو پاسیدئی، فرض کړه که تاسو ته ما ونیلے وے چه کیننی، نو
دا خو به ډیر لوئے زیاتے وو۔ بیا خو واه دلته دغه نه شوم، بیا خو ډکټیټر

شوم

**And I am not going to garb myself into a dictatorship. I am a democratic man, elected by you in a democratic process and I must follow the democratic principles, Arbab Saifur Rehman Sahib**

جناب اکرم خان درانی: یو منټ جي۔

جناب سپیکر: ستاسو نه لږ مخکښې جي خفا کېږئي به نه، ارباب سیف الرحمان پاسیدلے وو، څه هغوی څه وائی؟

ارباب سیف الرحمان خان: جناب سپیکر! هم دے باره کښې مو خبره کوله د بلدیاتی انتخاباتو د پاره، څکه چه دا الیکشن مخکښې، دا حلقه بندی ډیره ضروری ده۔ هغه تیر څل چه کومه حلقه بندی شوے وه هغه ضروری نه وه، غلطه شوے وه۔ نو پکار دا دے چه هغے د پاره څه موقع ورکړی چه ورومبے حلقه بندنی ټهیک شی، نو بیا هله الیکشن دِ کوی۔

جناب سپیکر: اکرم خان! داسے ښه ښه تجویزونه راولئی۔ منسټران صاحبان ناست دی، دوی به په دے خبرے کوی۔

جناب پیر محمد خان: غلطنی په کښې ډیرے دی۔

جناب اکرم خان درانی: جناب سپیکر صاحب! حقیقت دا دے چه دا یوه ډیره صحیح فیصله ده او په دے ملک کښې بلدیاتی الیکشن ضروری دے چه اوشی ----(تالیاں) ---- او په دے باندے مونږ ټول خوشحاله یو۔ حقیقت دا دے چه دا څوک راوتے دی د دے بنیاد هغه فرسټ بلدیاتی الیکشن دے، هغے نه وروستو بیا هر یو سیاسی هغه چه دے، دے مقام ته رارسیدلے دے خو صرف دومره خبره ده چه مونږ ټول په دے خوشحاله یو او دلته څمونږ یوه کمیټی جوړه شوے وه د صوبے په سطح باندے، چه هغے کښې د هر یو پارټنی تقریباً جی نمائندگی وه۔ هغے ټولو پارټو دا وئیلی وو چه څومره زر دا الیکشن اوشی په دے کښې دا هم اختلاف نشته دے، مونږ ټول د دے په حق کښې یو چه دا دِ اوشی او حقیقت دا دے چه که هغه بل الیکشن حواله واخلو هغه حو 90 days وی چه په هغے کښې یوه قانونی هغه وه چه هغه به خوا مخواه کیدل او په هغے وخت کښې په دے کښې هیڅ هغه نشته دے

چه د کلو خلق به په تراوۏ باندے ولاړ وو او دا خلق به غوبل غوبل ورته ناست وو۔ تراویح جی د خلقو خرابے شوے وے او دومره تکلیف وو هر چا ته، مونږ وایو چه صرف د روژے که خاطر اوساتی د دے نوره مونږ د روژے نه که پینځه ورځے ورستو وی مونږ تیار یو، که میاشت ورستو وی مونږ تیار یو خو صرف دا یو تجویز دے، د اپوزیشن د طرف نه یا د هغه نه حقیقت دا دے جی چه دا دومره ضروری دی چه اوس مونږ کلی ته خو مونږ ته سړے ناست وی چه مونږ ته یو پل جوړ کړه ۔ مونږ ته سړے ناست وی چه خمونږ کوڅه خرابه ده نو د دے نه به دا ممبران خلاص شی او د کوڅے، پل او ورکوټے کارونه، دا به دے نورو کسانو ته حواله شی۔ مونږ ټول د دے حمایت کوۏ صرف تجویز خمونږ دغه دے چه هغه که صرف په دے نظر ثانی اوشی چه د روژے د مبارکے ماشت خیال اوساتلے شی، هغے نه پس دے الیکشن ته مونږ هر وخت تیار یو۔

جناب سپیکر: جناب فتح محمد خان۔

جناب فتح محمد خان (وزیر جنگلات): مهربانی۔ ما جی صرف دا عرض کوۏ چه لکه څنګه چه خمونږه باچه صاحب اوفرمائیل او تاسو خپله خبره چه څه کونی جی، ستاسو خبره حو په سر و چشم به قبلوۏ حو دوی صرف دا خبره کوی چه پوائنټ آف آرډر باندے چه تاسو کله پوهه شنی چه دا پوائنټ آف آرډر چه دے، د دے د آرډرسره هیڅ تعلق نشته نو تاسو کم از کم، هلته دا هم ستاسو اختیارکښ شته، دا ستاسو اختیارکښ شته چه تاسو یو مسئله اهمه ګنړئی یا ضروری ګنړئی، هغه سړے به تاسو ته دا درخواست کوی چه د دے نه د پوائنټ آف آرډرخبره نه ده حو یو مسئله ده چه هغه خمونږ صوبے ته پیښه ده یا خمونږه پاکستان ته پیښه ده که تاسو مهربانی اوکړئی ما ته په دے باندے د یو څو خبرو اجازت راکړئی نو هغه تاسو ورکولے شئی۔ هغے باندے تاسو څوک نه منے کوی خو پوائنت آف آرډر [illegible] که اوس پوائنټ اف آرډر باندے یو سړے پاسی او هغه بل ته په کنځلو شروع کړی او تاسو آخر وخته پورے اورئی چه دا د ده جائز حق دے۔۔۔۔۔(قہقہ)۔۔۔۔۔ چه دا د ده جائز حق دے ځکه چه په پوائنټ آف آرډر ولاړ دے۔

جناب سپیکر: خدائے دِ دے طرف ته منه نه جوړه وی۔ خدائے دِ دے ته دغه نه جوړه وی، کنځلو ته به بالکل زه څوک نه پرېږدم خو دا ده، زه لږ دا وایمه چه اوس به دے د مقصد خبرے ته راشی، اوس به د مقصد خبرے ته راشی، نو زه څه اوکړمه؟

سید محمد صابر شاه: جناب سپیکر صاحب شکریه۔ دا نجم الدین صاحب د الیکشن حوالے سره خبره اوکړه۔ پهلا شے خو دا دے چه په دے شی باندے زه یقیناً نن چه په دے صوبه کښې د مسلم لیګ او د عوامی نیشنل پارټی حکومت دے او په مرکز کښې هم د دوارو پارټو مشترکه حکومت دے او زه دا به اووایمه چه د دے نه مخکښې د دے ملک عوام تقریباً هر دور کښې او په دے دغه کښې به نه خم چه چا هغے مسلم لیګ حکومت یا د پیپلز پارټی حکومت، لیکن د دے ملک د عوامو یو بنیادی یو ضرورت چه د کوم یو عام سړی سره تعلق دے، د سره، د عام سړی سره د هغے د کوڅے او د محلے د هغے د Root level نمائندګئی تعلق دے او همیشه مختلف ادوار کښې مختلفو حکومتونو د دے حق د غصب کولو کوشش کړے دے او دے حق نه ئے عوام ډیر وخت پورے ډیر لرے ساتلے دے۔ د پاکستان مسلم لیګ څمونږه موجوده حکومت چه اکثریت سره راغلے دے او څمونږ دا یو وعده وه بشمول د عوامی نیشنل پارټی چه مونږ چه کله برسر اقتدار راشو نو څمونږ به پهلا کار دا وی چه په دے ملک کښې به بلدیاتی انتخابات مونږ کوؤ چه دا بنیادی حق د دے ملک د خلقو، عوام چه دا اکثر د دے نه محروم ساتلے کیږی، دے خلقو ته دا حق دِ ملاؤ شی او جناب سپیکر! دا څما په خیال د دے شی نه علاوه څنګه چه دلته کښې درانی صاحب دا خبره اوکړه چه دا مطالبه چه کومه ده، دے کښې تقریباً هره پارټی په دے شی باندے متفق وه او متفق ده چه دے ملک کښې څومره زر چه کیدے شی انتخابات دِ اوکړے شی۔ نو چنانچه نن د پاکستان خلق یقیناً د موجوده حکومت دا ډیره لویه کارنامه ده، د میاں نواز شریف صاحب په قیادت کښې چه په کیبینټ کښې کومه دا فیصله اوشوله چه ډیر زر د انتخابات اوشی نو دا د دے ملک د عوامو حق دے او د دے ملک د عوامو دا یو مطالبه هم وه چه کومه پوره شوله۔ باقی په دے شی باندے نجم الدین صاحب د جذباتو زه

ډير قدر کوم۔ صرفِ يو خبره زه ضرور کومه، دا فيصله چه کومه شوے ده خنګه چه تاسو اوفرمائيل دا فيصله يکطرفه فيصله نه ده شوے۔ دا په کيبينټ کښې فيصله شوے ده په هغه کيبينټ کښې چه کوم کښې د څلورو صوبو وزرانے اعلیٰ ناست وو او په دے هاؤس کښې چه د حکومت دوه پارټئ دي پاکستان مسلم ليګ او عوامی نيشنل پارټي، د دے پارټي د دے صوبے نمائندګی ده، غړے هم هلته کښې ناست دے او تقريباً دوه ورځے په دے باندے مسلسل بحث و مباحثے نه ورستو باهمی مشاورت سره دا يو فيصله چه کومه ده، هغه شوے ده چه دا اليکشن چه دے دا دِ فوراً اوکړے شي۔ يقيناً مياشت د روژے ده، دا ټولے خبرے مونږ ته مخے له راغلے دي ليکن خما په خيال چه صوبائی اسمبلی او د قومی اسمبلی انتخابات، چه مونږ صوبائی او قومی سطح باندے هغے اليکشنونو ته تيار يو چه په روژه کښې هغه اليکشنے کوو، ولے چه هغه صوبائی اسمبلی ته خلق خی او قومی اسمبلی ته خلق خی خو که دے هاؤس نه دا خبره اوچته شی چه دے شی ته مونږه تيارنه يو او دا يو بهانه مونږه جوړه کړو چه د رمضان په وجه باندے دِ دا اليکشن وروستو شی نو دا خمونږ دِ کوم خلقو چه مونږ دلته راستولے يو په دے اسمبلی کښې، هرممبر که آزاد دے که د پاکستان مسلم ليګ نه دے که د اے اين پی نه دے که د پيپلز پارټي نه دے هغه ټول د هغے خلقو نمائنده دي چه د کومو خلقو نن هغوی ته هغے حق ورکولو ته مونږ اووايو چه د روژے په وجه باندے دا شے مونږه دغه کړو د دے نه مخکښې په دے هاؤس کښې د يو ممبر پاسيده او هغه قرارداد ئے پيش کړو چه دا بلدياتی ادارے Minority چه دي دا دِ ختم شي او جناب سپيکر، د هغے يو ممبر په دغه باندے اسمبلی هغه دغه پاس کړو او بلدياتی ادارے ختمے شوے۔ نو دا يو Message چه کوم بيا خی، يعنی زه په هغے باندے Criticise کوم نه په هغے قرارداد باندے ليکن زه دا ضرور وايمه چه مخکښې به يو Message دا خی چه د يو پارټي طرف نه څه شے رانغلو د يو Minority ممبر طرف نه يو شے راغے او اسمبلئ چه کومے دی، دا بلدياتی ادارے چه کومے دی هغه ختم کړے شولے ليکن نن بيا يو حکومت اعلان اوکړو او روژے چه کومے دی هغے د پاره بهانه

جورېږي نو خما په خيال دا Message به عام سړي ته، هغه به غلط يو Message هغې خلقو ته او خما په خيال چه په ميلونو ، ميلونو خمونږ Constituencies دي په هغو کښې مونږ ه په روژه کښې کار کړے دے نو هغه محدوده په Constituencies کښې به خما په خيال دا، خمونږ په لاره کښې به روژه نه مانع کيږي او زه به دا ريکويسټ کوم چه دے شي له مونږ له متنازعه نه دي جوړول پکار بلکه دا يو فيصله يو بولډ فيصله ده، يو مضبوطه فيصله ده د دے حلقو د عوام د ضروورياتو، د دوی د دے مطالبے په بنياد باندے دا يو فيصله شوے ده نو دا فيصله چه کومه ده، دے له د دے هاؤس نه مکمل سپورټ ملاؤيدل پکاردی چه دا په خيرخيريت سره دا اليکشن اوشی، صرف دومره زه به اووايم، لږ مونږ له -----

جناب سپيکر: د فيصلے خو پير صاحب! پدے کښې څه دغه نه دے۔

سيد محمد صابر شاه: جی۔

جناب سپيکر: فتح محمد خان ناست دے بيا به اوس ما ته روغوندے اووائی چه دا ته څه کوے؟ اوس خما خبره واورئی جی، دا تاسو اوګورئی خما اوس، دغه چه کوم دے مخے ته پروت دے آئی آئی سی، په هغے باندے Discussion دے، دا دريمه ورځ ده چه هغه دغه کيږی -----

سيد محمد صابر شاه: خما خيال دے پوره سيشن کښې ما درے منټه اغستے دی۔

جناب سپيکر: نه، نه په هغے پورے نه وايم۔

سيد محمد صابر شاه: يو منټ به نور واخلم او ايجنډه باندے تاسو شروع کړئی۔

جناب سپيکر: نه تاسو اووے چه څه فيصله تاسو اووے کنه نوما دا دغه کولو فتح محمدخان هم دے مار ماته ګوری او لږ لږ موسکے موسکے کيږی، نو ما له دِ جواب راکړی چه زه اوس دا پوائنټ آف آرډر يا دغه څنګه دغه شم۔

سيد محمد صابر شاه: نه جی، يو شے دلته راغے۔ دا صرف دے ريکارډ د پاره وو او ما چه بهر يو Message د دے اسمبلی نه هم دے دے ته يو سپورټ ملاؤ شی دا ما ضرور کنړل۔ زه مشکوريم دے د پاره، صرف آخری خبره به زه هغه خپل ورور ته ستاسو په وساطت سره اووايم، دے هاؤس کښې دننه مختلف

پارټئی دی، مختلف پارټو مشران دی، لږ مونږ، او یو پارلیمانی آداب، پارلیمانی زبان، د پارلیمانی دغه دا وی چه مونږ که چاله کانړے هم راپریږدو نو هغه هم په ریشمی رومال کښې بندوو او راپریږدو نے، چه هغے کښې دِ د اخلاقیاتو، د دوی څه شے چه کوم دے هغه دِ نه وی- نو Atleast زه به دا اووایم، زه خپل مسلم لیګ ممبرانو ته به دا اووایم چه د چا لیډر د چا قائد د چا پارټئی سره تعلق وی، هغه باره کښې چه کله هم څه خبره کیږی هغه د د اخلاقیاتو د هغه، د حیثیت هغه ټول دِ ملحوظ خاطرساتلے کیږی- دے سره یقیناً تکلیف چه کوم دے یقیناً هغه پارټو ته، نو زه به خپل طرفنه دا، زه به دا اووایم خپلوملګرو ته او نورو ته به هم دا ریکویسټ کومه چه Atleast، چاهے د پیپلز پارټئی مشروی، چاهے دعوامی نیشنل پارټئی مشر وی چاهے د بل چا پارټئی مشروی او چه هغوی باره کښې یا خبره کیږی یا دغه، نو کم از کم د هغوی د حیثیت او د دغه هغه اخلاقی یومعیار چه کوم دےهغه مونږ له ساتل پکاردی- ډیره مهربانی سر- (تالیاں)

<u>جناب احمدحسن خان</u> ، جناب سپیکر! په دے باندے تاسو ما له مخکښې دغه راکړے وو-

<u>حاجی بهادر خان</u> (مردان)، جناب سپیکر صاحب! پوائنټ آف آرډر-یومنټ-

<u>جناب احمدحسن خان</u> ، ښه -

<u>حاجی بهادر خان</u> (مردان)، جناب سپیکر صاحب ! په څلورم تاریخ، په تیرشوی څلورم تاریخ باندے مونږ د کمیټئی میټینګ راغوښتے وو، په هغے کښې تقریباً د هرے پارټئی ملګری شامل شوی وو او هغوی په مشترکه طور باندے وئیلی وو چه یره دا الیکشن کول ډیر ضروری دی نو په دے بحث کولو ته زیات ضرورت نشته، میاں نواز شریف صاحب حکم کړے دے، فیصله شوے ده، کیبنټ خمونږ چیف منسټر پکښې ناست وو نو پکاردا ده چه الیکشن اوشی او دا ډیر ضروری دے-

<u>جناب سپیکر</u> ، احمد حسن خان صاحب!

<u>جناب احمدحسن خان</u> ، جناب سپیکر! د الیکشن د کولو او د بلدیاتی ادارو د

حقیقت نه هیڅ څوک انکار نه کوی خو زه اوس هم دا وایمه چه که تاسو لږ غونډے سوچ اوکړنی په دے هاؤس کښں دننه په دے خبره کښں نه صرف دا چه د اپوزیشن او د ټریژری بینچز د ممبرانو په مینځ کښں اختلاف رائے ده بلکه په حکومتی بینچز کښں دننه هم اختلاف رائےده۔ یعنی دا یو حقیقت پسندانه خبره ده او مختلف حوالو سره ارباب صاحب خبره اوکړه منظورباچا اوکړه، چرته چه څوک خبره کوی زه خو دے خبرے ته ټهیک نه شم وئیلے چه کانړے رارغړوم نو د ریښمو په رومیال کښں دے اونغاړم او سرے دِ پرے اوولم۔ د دے نه خو سرے ډیر غلط مطلب اخلی، دا خو به زه زیاتے کوم، منافقت به کوم چه وی به کانړے او د ریښمو په رومیال کښں به دِ سپیکر صاحب په هغے د چا سر اولم، خدائے تعالیٰ دِ دا عمل خما نه هیڅ کله هم اونه کړی -----( قہقہے)---- جناب سپیکر! عرض مے صرف دا دے چه یو Ninety days کښں بلکه زه خو به دا ښه ګڼړم چه زه تش د ریښمو رومیال جناب سپیکر صاحب ته په دواړو لاسو کښں وړاندے کړم د کانړی په ځائے باندے، نه هغه رومیال چه په هغے کښں دننه کانړے وی۔ جناب سپیکر! یو خو هغه ضرورت وو چه په Ninety days کښں جناب سپیکر الیکشن کول وو Binding on the govenrment according to the Constitution. ، بالکل هغے کښں خو بله د فرار څه لار نه وه۔ اوس د څو پورے د الیکشن خبره ده مونږ ئے بالکل منو، مونږه وایو چه زرترزره او مونږدا وایو چه د فروری په ځائے باندے دا په اپریل کښں اوکړنی او په دے اسمبلی کښں دننه فیصله اوکړنی او نن ئے اوکړنی۔ مونږ د دے نه هم انکار نه کوؤ۔ بیا جناب سپیکر د جناب طوفان صاحب د بنوں یا د ډیره اسماعیل خان په حواله سره ئے تقریر په اخبارونو کښں راغلے دے او هغوی دا وئیلی دی چه مونږه به په دے صوبه کښں د مردم شماری نه پس الیکشن کوؤ او جناب سپیکر ما، زه دا هم عرض کوم چه ما د کال اټینشن نوټس په ذریعه باندے دا خبره راوستے هم ده خکه چه He is in the best position to answer me. او هغه مے خکه راوستے ده دا صورتحال اوس داسے جوړشو چه په دے کښں هغه دے تضاد په ګورنمنټ کښں دننه ښکاره شو، هغه کال اټینشن نوټس ما د دے د پاره

وړاندے کړے دے چه هغه هلته لاړشی نو پخپله پارلیمانی کمیټی میټینګ به نے هلته Discuss کړی د دے Prob and coms هغه به دغه کړی او بیا به مونږ له جواب راکړی۔ جناب سپیکر! مونږ صرف دا وایو چه دوه غټو ډویژنونو ته، د دوه ډویژنونو ووټرانو ته چه هغه هزاره او ملاکنډ ډویژن دے، هغے ته په دےوخت کښ په الیکشن کولو کښ مشکلات دی۔ د دے نه صرف یوه یوه نیمه یا دوه میاشتے وروستو او ضرور دِ اوشی او خواه مخواه دِ اوشی، دا ضروری خبره ده جناب سپیکر، چه دا دِ اوشی خو حالات چه کوم دی دا په مالاکنډ او خصوصاً په هزاره کښ دا د دے د پاره موزون نه دی۔ خمونږ دا درخواست دے چه په موزون وخت دِ اوشی۔

جناب عبدالسبحان خان ، پوائنٹ آف آرڈر سر۔

اسلامی نظریاتی کونسل کی رپورٹ پر بحث

جناب سپیکر ، خما خیال دے بس عبدالسبحان خان! دا Chapter close کوؤ او اوس د دے نمبر دے، دے ته رامخامخ کیږه، Honourable Salim Saifullah Khan, MPA to please start discussion on the I.I.C. (Absent),. Honourable Abdul Subhan Khan, MPA to please start discussion.

جناب عبدالسبحان خان ، اَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیطٰنِ الرَّجِیمْ، بِسمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیمْ۔ قابل احترام سپیکر صاحب! اسلامک آئیډیالوجی کونسل په رپورټ باندے بحث، دا حقیقت خبره ده چه دا یوداسےسبجیکټ دے چه ګو چه دے کښ خمونږه او دا یوداسے افاقی ضابطه حیات چه کوم ده، آقائے نامدار رحمت لله صلی اللّٰہ علیه وآله وسلم په ذریعه د قرآن پاک په شکل کښ په هغوی نازل شوے دے او مونږ ته دلارے د هدایاتو د پاره ----

جناب نجم الدین: پوائنٹ آف آرڈر سر

جناب سپیکر ، جی۔

جناب نجم الدین: کورم طرف ته سر لږه توجه ورکړنی۔

جناب سپیکر ، دا اوګورئی، کورم اوګورئی جی۔ لږهغه ته اووانیی چه Bell

Seventeen, This is اووهنی جی دوه منټو د پاره، څه پوزیشن دے جی ؟
uncomplete. بیا خو ختم کړه۔

**Mr. Speaker:** The sitting is adjourned and we eassemble day after tommorrow at 10:00 a.m. Thank you.